# له الحاد (بې دينۍ) څخه اسلام ته تېښته.

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام جمعية الربوة رواد الترجمة المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.


Telephone: +966114454900

ceo@rabwah.sa

P.O.BOX: 29465

RIYADH: 11557

www.islamhouse.com

د الله په نوم، حمد او ثنا دې وي، درود او سلام دې وي پر رسول الله صلى الله عليه وسلم، د هغه پر کورنۍ او اصحابو او پر هغو کسانو چې هغه ته وفادار دي؛ اما بعد

دا يو کتاب ګوټی دی: (له الحاد -بې دينۍ- څخه اسلام ته تېښته).دا رساله مونږ ته "د الحاد طبيعت" او ډولونه بيانوي، او دا چې څرنګه الحاد د عقل او (الهي) فطرت له بديهياتو سره په ټکر کې دی.او دا رساله د خالق ذات د ثبوت ځني دلايل وړاندې کوي.مونږ په عقل سره الله جل جلاله پېژنو، الله تعالى فرمايلي:

﴿أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ ٣٥﴾ [الطور: 35]

(آيا دوی بې له څه شي پيدا کړی شوي دي، يا هم دوی، پخپله پيدا کوونکي دي) ﴿٣٥﴾ ?د الطور سورت.

په عقل سره؛ درې امکانات شتون لري چې څلورم ورته نشته.لومړی: دا چې مونږ پرته له خالق څخه پيدا شوي يو: (أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ) -آيا دوی بې له څه شي پيدا کړی شوي دي- چې دا کار ناشونی دی، ځکه څنګه پرته له پيدا کوونکي څخه پيدا کيدی شو؟

دويم دا: چې مونږ خپل ځانونه په خپله پيدا کړي دي (أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ) - يا همدوی په خپله پيدا کوونکي دي - دا هم ناشونې ده، ځکه څنګه کيدی شی چې خپل ځان پيدا کړم مخکې لدې چې پيدا شم؟ نو په عقل سره دريم احتمال پاتې کيږي، او هغه دا دی چې آيت ورڅخه چوپ پاتې شوی دی ځکه چې عقل يې مني؛ هغه دا چې مونږ لره يو خالق شته چې مونږ يې پيدا کړي يو.نو مونږ، الله تعالى په عقل سره پېژنو. همدا رنګه مونږ الله تعالى

په فطرت سره پېژنو.او په فطرت سره دا هم پېژنو چې بتان او طبیعت د کایناتو د پیدا کولو او د بکتریا او انسان د رامنځته کولو هیڅ ځواک نه لري، او نه هم پدې بنه د انسان د بدن د فعالیتونو کنترول او نه هم له وړې ذرې څخه د کهکشان تر کچې زیرک پیدایښت.نو هغه بتان چې کافران یې عبادت کوي، او هغه فطرت چې ملحد (بې دینه) پرې باور لري، دواړه خپل خالق ته محتاج دي.

بتان او طبیعت د خپلو چارو د هیڅ شي واک نه لري، او دوی سره ستا په داخل کې پدې حیرانوونکې اندازې سره د هرمونونو د تنظیم وړتیا نشته، او نه هم دوی د دې وړتیا لري چې جینیټیکي کوډ ځای په ځای کړي، کوم چې د هرې ژوندۍ حجرې دننه میلیونونه معلومات دي، او نه د دوی سره د کوم شي د موندلو توان شته، حتی د خپل ځان د پیدا کولو وړتیا هم نه لري.د دې عجائبو سره د دې نړۍ پیدا کوونکی لوی خالق دی، په هر څه پوه، ځواکمن، د حکمت خاوند او پاک ذات دی.بیا لدې وروسته دا رساله د بې دینانو شبهې او د خالق لا یزال په اړه د عقلي او فطري دلیلونو د باطلولو هڅې ځیرې.او د دوی د مشهورو باطلو هڅو څخه یوه هم (په تصادفي توګه د کائناتو د رامنځ ته کېدلو) وینا ده، دا د دوی ناپوهۍ له امله او یا د احتمالاتو د پام غورځولو له امله، ځکه تصادف دوه شرطونه لري چې ورڅخه نه جلا کیږي.او هغه دواړه: وخت او ځای دي.نو د تصادف لپاره وخت شرط دی چې اغیزه پکې وکړي.او د یو شي فزیکي شتون ته اړتیا لري چې خپل تاثیر پکې تولید کړي.

ښنګه کولای شو ووایو چې چانس(تصادف) د کایناتو په جوړولو کې رول لوبولی دی! سره لدې چې زموږ کائنات د هیڅ وخت او هیڅ ځای او بالآخرة پرته له تصادف څخه رامنځته شوي دي.بیا دا رساله د دین شتون ته د اړتیا، د دین مفهوم او رب العالمین ته د حتمي تسلیمیدو د اړتیا په موخه ځینې عقلي شواهد وړاندې کوي، نو الله ته تسلیمېدل او هغه ته په اطاعت سره غاړه ایښودل همدغه د دین حقیقت دی.

نو ته الله ته غاړه ږدي، او د خپل خالق، رازق او هغه ذات عبادت کوې چې پر تا يې د هر ډول احسان، نعمت او هدايت لوريينه کړې ده.نو عبادت د الله حق دی پر بندګانو، ځکه الله هغه پاک ذات دی چې مونږ يې پيدا کړي يو، ژوند يې راکړی، روزي يې راکړې، لاربښوونه يې راته کړې، او خپل رسولان يې مونږ ته راليږلي دي تر څو مو وازمايې او امتحان مو کړي چې څوک زمونږ څخه غوره عمل کوي، نو عبادت د الله حق دی پر مونږ باندې.

﴿ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْمَوْتَ وَٱلْحَيَوٰةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفُورُ ۝٢﴾ [الملك: 2]

هغه ذات چې مرګ او ژوند يې پيدا کړی، د دې لپاره چې تاسو وازمايي چې په تاسو کې د عمل په لحاظ کوم يو ډېر ښه دی او هم دی ښه غالب، ډېر بخښونکی دی [سورة الملک.].

پيا وريسې پړاو کې دغه رساله د اسلام پر صحت ځنې دلايل وړاندې کوي، او دا حقيقت بيانول چې الله له بشريت څخه پرته له اسلام څخه بل دين نه قبلوي، الله تعالى فرمايي:

﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَـٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَـٰسِرِينَ ۝٨٥﴾ [آل عمران: 85]

{ او څوك چې له اسلام نه غیر (بل) دین غواړي، نو هیڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په اخرت کې له تاوانیانو څخه دی .[سورة آل عمران.]

نو اسلام هغه دين دی چې الله پرې ټول نبيان او رسولان راليږلي دي.او د اسلام اساسي نښه دا ده چې پدې کې الله ته غاړه ايښودل او يوازې د هغه عبادت کول دي.او اسلام تر ټولو بشپړ شريعت دی چې الله تعالی ته غاړه ايښودلو ته هڅول کوي.

او دا يوازينی دين دی چې د الله توحيد ته بلنه ورکوي، هغه توحيد چې ټول انبياء پرې راغلي دي.نو ټول پيغمبران د توحيد په عقيده دي، که څه هم چې قوانين يې سره جلا دي.

الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ٢٥﴾ [الأنبياء: 25]

{ او مونږ له تا نه مخکې هیڅ رسول نه دی لیږلی مګر چې هغه ته به مونږ(دا) وحي کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هیڅ حق معبود نشته، لهذا تاسو زما عبادت کوئ [سورة الأنبياء.].

او نن سبا پرته له اسلام څخه هيڅ دين په توحيد پاتې ندی، حال دا چې نورو اديانو ته منسوبين په شرک کې لږه يا ډيره ونډه لري، د پيغمبرانو له مرګ څخه وروسته او وروسته

لدې چې خلک یې د توحید پر دین پرېښودل، د وخت سره خلکو شرکي عملونه پیل کړل، او نن په سوچه توحید چې انبیاوو راوړی دی هیڅ دین پاتی ندی پرته له اسلام څخه.

بیا رساله پدې سره پای ته رسیږي چې انسان څرنګه مسلمان کیدلی شي، او د اسلام معنی او اسلام ته اړتیا څه دی.

اسلام ټولو هغو پوښتنو ته چې د انسان په ذهن کې ګرځي جواب ویلی چې: له کوم ځای نه راغلي یو، ولې مونږ پدې نړۍ کې یو، او مونږ چیرته تلونکي یو؟

اسلام دې ټولو ته د قرآن کریم په یو آیت کې جواب ویلی، زمونږ پاک رب فرمایلي:

﴿وَمَالِيَ لَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ٢٢﴾ [یس: 22]

{ او په ما څه شوي دي (څه مانع دی) چې زه به د هغه ذات عبادت نه کوم چې زه يې پیدا کړی یم او خاص هغه ته به تاسو بېرته بېول كېږئ [سورة يس].

له کوم ځایه راغلی یې؟ الله پیدا کړی یم، (الَّذِي فَطَرَنِي). هغه ذات چې زه یې پیدا کړی یم.

او زه چیرته تلونکی یم؟ ژر دی چې الله ته به ورشم، تر څو راسره د عمل حساب وشي.

(وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ). او هغه ته به تاسو بیرته بیول کیږئ.

ولې دې نړۍ ته راغلی یم؟ د الله د عبادت لپاره او چې وازمایل شم.

زه ولې د الله عبادت کوم؟ طبيعي خبره ده چې زه د هغه الله عبادت کوم چې زه يې پيدا کړی يم، ځکه د بنده او د هغه د رب تر منځ د اړيکو طبيعت همدا دی چې: بنده د خپل رب او خالق عبادت وکړي.

او په ما څه شوي دي (څه مانع دی) چې زه به د هغه ذات عبادت نه کوم چې زه يې پيدا کړی يم.

يو آيت دی چې د دريو خورا مهمو پوښتنو ځوابونه يې راغونډ کړي دي چې انسانان يې حيران کړي دي:.

﴿ٱتَّبِعُواْ مَن لَّا يَسۡـَٔلُكُمۡ أَجۡرٗا وَهُم مُّهۡتَدُونَ٢١ وَمَالِيَ لَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ٢٢ ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً إِن يُرِدۡنِ ٱلرَّحۡمَٰنُ بِضُرّٖ لَّا تُغۡنِ عَنِّي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا يُنقِذُونِ٢٣﴾ [يس:1 2_23]

او په ما څه شوي دي (څه مانع دی) چې زه به د هغه ذات عبادت نه کوم چې زه يې پيدا کړی يم .

)۲۲ [سورة يس].

اسلام د ټول عالم لپاره د الله شريعت او قانون دی.

او د اسلام معنا ده چې: بنده خپل ځان الله ته وسپاري، نو الله ته تسليميږي او په طاعت کولو سره ورته غاړه ږدي، او د خپل خالق او مالک پيروي کوي.

الله تعالی فرمايلي دي:

﴿۞ وَمَن يُسۡلِمۡ وَجۡهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰۗ وَإِلَى ٱللَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ٢٢﴾ [لقمان: 22]

(او هغه څوك چې خپل مخ الله ته وسپاري، په داسې حال كې چې نېكي كوونكى وي، نو يقينًا ده په ډېرې مضبوطې كړۍ باندې منګولې ښخې كړې دي [سورة لقمان.]

اسلام د ژوند په هر کوچني او لوی کار کې د الله بندګي کول دي، الله تعالی فرمايي:

﴿قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦٢ لَا شَرِيكَ لَهُۥۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرۡتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ١٦٣﴾ [الأنعام: 162-163]

(ته ووايه: بېشكه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ خاص د الله رب العلمين لپاره دي د هغه هېڅ شريک نشته او ما ته د همدې (توحيد) حکم شوی دی او زه تر ټولو مسلمانانو اول يم .[سورة الأنعام].

لمونځ مې، قرباني مې، ژوند او مرګ مې خاص د الله رب العالمين لپاره دي، هر څه چې تر سره کوم د الله لپاره يې کوم، زه چې لمونځ کوم؛ د الله لپاره يې کوم، د مور او پلار اطاعت د الله لپاره کوم، لوست او زده کړه د الله لپاره کوم تر څو خلکو ته ګټه ورسوم، او ويده کيږم تر څو سبا ته ځواکمن اووسم پر هغه څه چې الله راته پرې امر کړی دی.

نو دا په هر عمل کې د الله بندګي ده، او دا الله ته د تسلمیدو تر ټولو مهمې نښې نښانې دي.

د پوهې لوړه...د هغه اړین شي لوړه چې زمونږ پام ځانته اړوي بل شی یې نشي مړولای پرته له اسلام څخه.

په داسې حال کې چې الحاد د هغه چا لپاره بسنه نه کوي چې پوهیږي چې هغه د مرګ لپاره زیږیدلی.

دغه رساله د الحاد په ستونزو کې یوه علمي او فکري سرچینه ده او د اسلام د اعتبار ځینې شواهد وړاندې کوي.

دا وجبه (غذا ) د سوال او ځواب په شکل کې ده...

نو راځي د الله په برکت یې پیلوو

۱- الحاد څه ته وایي؟

ج: الحاد په هر غیبي ځواک له باور کولو څخه انکار دی.

ملحد د خالق، نبوت او قیامت څخه انکار کوي.

۲- په الحاد باندې څه شی عیب ګڼئ؟

ج: الحاد د دیني عقیدې په پرتله خورا لوړ باور ته اړتیا لري.

خو دا هغه عقیده ده چې په خیالي انګیرنو او درواغجنو تصوراتو ولاړه ده، د دیني عقیدې برعکس چې په فطري او حتمي محورونو ولاړه ده، چې موږ یې په خپلو سترګو وینو، او فکري لومړیتوبونه او شرعي دلایل دي.

د دې لپاره چې ملحد شې نو باید لاندې کارونه تصور کړئ: الف- هیڅ شی؛ بل هیڅ شي ته ور اضافه شو او له هغې څخه یو لوی شی رامنځته شو...دا په یوه غوره بڼه، نهایت دقیق او معیاري ډول، خورا دقیقې اندازې سره او ستونزمنو حدودو سره کاینات شول. ب- تصادف حیرانوونکي حدود او فزیکي ثوابت رامنځته کړل کوم چې په کائناتو کې لیدل کیږي؛ په داسې حال کې چې د تصادف لپاره دوه شرطونه دی چې ځای او وخت دي، او کائنات پرته له ځای او وخت څخه رامنځته شول! ج- د زمکې لمړي چاپیریال او ګډوډی؛ ژوند، باکتریاوي او انسان رامنځته کړ، پداسې حال کې چې اوس مهال بشري عقل د نبوغ حالت ته رسیدلی، خو لدې سره بیا هم نشي کولی چې د ژوند یوه ساده نمونه اختراع کړي. د: ټول هغه اخلاقي ارزښتونه چې موږ یې سم ګڼو، او ډیری یې په بشپړ ډول د مادې ضد لوري ته ځي - نو اصلي اخلاق د دنیوي مصلحت پر بنا د مادي بار او تاوان استازیتوب کوي. هغه چې د مادې او د هغې محصولات دي، دا عقلي ناشوني هغه څه دې چې په الحاد (بې دینۍ) د پیل په موخه پرې باید باور ولرې.

هـ- د الحاد لپاره هیڅ منطقي یا مادي دلیل شتون نلري چې د زمکې د ټولو خلکو د له منځه تللو مخه دې ونیسي.

مادي نړۍ سم او ناسم نه پیژني.

چې داسې ده نو د الحادي مفکورې پر اساس؛ د زمکې د ټولو خلکو له منځه تلل د هغوی د راژوندي کیدو سره برابره خبره ده.

الحاد هم د باور پر بنسټ ولاړ دی، مګر داسې یو باور چې د پوهې، دلیل، عقل او یا اخلاقو څخه خالي دی.

د خالق د شتون دلیل څه شی دی؟

دلیلونه زیات دی خو په دوو بسنه کوو:

د پیدا کولو دلیل.

د پاملرنې او مهارت دلیل.

د پیدا کولو دلیل څه معنا لری؟

د پیدا کولو د د لیل معنا دا ده چې:

هر شی رامنځته شوی، پدې معنا چې پیدا شوی وروسته له هغه چې شتون یې نه درلود، نو خامخا به رامنځته کوونکی یعنې پیدا کوونکی لري.

نو پدې اساس به زمونږ سره د پیدا کوونکي پاک ذات پر شتون بې شمېره دلیلونه وي.

په کایناتو کې هره ذره د پیدایښت ثبوت دی، لکه څنګه چې هر څه رامنځته شوي په حقیقت کې وجود ته راښکاره شوي، نو دا په یو پیدا کوونکي ذات دلالت کوي) .١(

او که وجود (شتو شیانو) ته وګورې نو دا به درته څرګنده شي چې دا موقتي او بدلیدونکی دی؛ نه دایمي او ابدي، لدې امله دا په خپل ځان بسیا نه دی او دا خبره په ذهني توګه تا ددې خبرې منلو ته اړ باسي چې دا یو خالق لري، او پدې سره ستاسو سترګې یوازې د نړۍ په لیدو سره د نړۍ خالق ته راګرځي.

لدې امله د قرآن آیتونه ځومره زیات دي چې د انسان پام نړۍ او زمونږ چاپېره مخلوقاتو ته واوړي، الله تعالی فرمايي:

﴿ قُلِ ٱنظُرُواْ مَاذَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَا تُغۡنِي ٱلۡأٓيَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ ١٠١﴾

[يونس: 101]

ته (ورته) ووايه : تاسو وګورئ په اسمانونو او زمکه کې څه (څه دليلونه) دي او هغه قوم ته آيتونه او وېروونکي ګټه نه رسوي چې ايمان نه راوړي[سورة يونس].

او الله تعالی فرمايي:

﴿ أَوَلَمۡ يَتَفَكَّرُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۗ مَّا خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَأَجَلٖ مُّسَمّٗىۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ بِلِقَآيِٕ رَبِّهِمۡ لَكَٰفِرُونَ ٨﴾ [الروم: 8]

{ آيا دوی په خپلو نفسونو کې فکر ندی کړی، چې الله آسمانونه او زمکه او هر هغه څه چې د دې دواړو په مينځ کې دي؛ ندي پيدا کړي مګر په حقه سره او په ټاکلې نېټې سره او بې‌شکه ډېر له خلقو ځني د خپل رب په ملاقات خامخا منکران (او کافران) دي} ٨ [سورة الروم].

او الله تعالی فرمايي:

﴿أَوَلَمۡ يَنظُرُواْ فِي مَلَكُوتِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ وَأَنۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَدِ ٱقۡتَرَبَ أَجَلُهُمۡۖ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَهُۥ يُؤۡمِنُونَ١٨٥﴾ [الأعراف: 185]

{ آيا دوی د اسمانونو او ځمكې په سلطنت (او انتظام) كې غور نه دی كړی او په هغو شيانو كې چې الله پيدا كړي دي) ﴿١٨٥﴾ .[سورة الأعراف].

نو هر شی چې تازه پيدا شوی نبغ په نېغه د پيدا كوونكي په شتون دلالت كوي.

د پاملرنې او مهارت دليل څه معنا؟

د پاملرنې او مهارت دليل معنا دا ده چې:

په مطلق ډول سره په كائناتو كې له كواركونو - تر ټولو كوچنۍ مادي كتله ليدل شوې ده، چې اټومي جوړښتونه تشكيلوي - څخه نيولې تر كهكشانونو پورې، يوه اندازه پيچلې دنده لري.

پدې معنا چې يوه تخصصي، مهمه او ځانګړې دنده سرته رسوي.

او په طبيعت كې هره وظيفوي پيچلتيا، په مجرد شتون باندې زياته مرتبه لري.

نو شتون يوه مرتبه ده.

او د شته شيانو دننه پيچلتيا، په يوازې شتون زياته مرتبه لري.

او هر څه مو چې چارچاپیره دي په ځانګړې بڼه ډیزاین شوي تر څو ځانګړې دنده سرته ورسوي.

نو هر څو مو چې چارچاپیره دي، په حقیقت کې یوه پیچلې دنده لري.

او وظیفوي پیچلتیا پخپله د جوړښت او پیدا کولو دلیل دی.

نو خامخا یو پیداکوونکی شته.

بیلګه یې: چراغ دی، چې وظیفوي پیچلتیا ښایي.

برقي چراغ له لاندی شیانو جوړ دی:

۱ - شمع(ګروپ)

د مسو سیم: چې شمې ته برق ورکړي.

اضافي ګاز: چې د شمې ساتنه وکړي او له شمې او برق سره تعامل و نه لري.

ښېښه: چې د هوا ننوتلو او اضافي ګاز راوتلو مخنیوی وکړي، که داسې ونه شي نو شمه به وسوځیږي.

د چراغ پایه (هولډر) تر څو څراغ له هولډر سره ونښلوي او بالاخره د بریښنا جریان رامنځته کړي

دلته بریښنایي څراغ یو پیچلی سیستم لري چې ساده کیدی نشي، له همدې د ټولو په سر کې په زیرک جوړښت باندې دلالت کوي.

هغه څوک چې د څراغ زیرک جوړښت نه مني او یا وایي چې دا خپله په تصادفي ډول رامنځته شوی، نو باید د دې خبرې لپاره ترې دلیل وغوښتل شي.

نو هغه چا چې څراغ جوړ کړی د بریښنا په معنا، جریان، د څراغ په ګټو او د شمې په حساسیت پوره پوهیږي، لدې امله د څراغ شتون نیغ په نېغه د زیرک جوړوونکي په شتون دلالت کوي، او اتکلي ندی چې ګویا نور څراغونه شته چې په پوره توګه د دې څراغونو سره په شکل کې توپیر لري.

د عقلي استدلال د ورته درجې سره، ګورو چې یو فعال پیچلي شی لکه انسان یو خالق لري.

څراغ له پنځو برخو څخه جوړ دی...

پداسې حال کې چې انسان په هره حجره کې 4 ملیارده اجزاوې لري.

څلور ملیارده اجزاوي "حروف" د یو ژوندي ارګانیزم دندې تشکیلوي چې د جنیټیک کو، جینوم یا DNA ورته ویل کیږي، او دا حروف ستاسو د هرې حجرې په مرکز کې موقعیت لري.

نو که فکر کوئ چې د څراغ پنځه برخې یو جوړونکی لري او تاسو جوړونکی نه لرئ، نو دا ستاسو ستونزه ده:..

﴿أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ ٣٥﴾ [الطور: 35]

{ آيا دوی بې له څه شي پيدا کړی شوي دي، يا هم دوی، پخپله پيدا کوونکي دي ﴿٣٥﴾ [سورة الطور].

ستاسو په شاوخوا کې هرڅه پيچلتيا لري، او هيڅ شی په طبيعت، اتوم، پورته سيارو، يا ستاسو په بدن کې شتون نلري، پرته له يوې اندازې وظيفوي پيچلتيا څخه.

د هر اتوم او هرې ذرې وظيفوي پيچلتيا او دنده د کائناتو په هر شی کې شتون لري.

الله تعالى فرمايي:

﴿ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَـٰهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ يَعْرِفُونَهُۥ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَآءَهُمْ ۖ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ ٱلْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤٦﴾﴾ [البقرة: 146]

{يقينًا د آسمانونو او زمکې په پېدا کولو او د شپې او ورځې په بدلېدو او په هغو بېړيو کې چې په سمندر کې يې هغه څه روان کړي وي چې خلقو ته نفع رسوي، او په هغه څه کې چې الله له بره نه راورَولي دي، چې اوبه دي، نو په دې سره يې ځمکه د هغې د مړه کېدو (وچېدو) نه پس ژوندۍ کړه، او په دې کې يې هر قسمه خوځنده (شيان) خواره کړل، او د بادونو په ګرځولو (راګرځولو) او په هغې وريځ کې چې د اسمان او زمکې په مينځ کې مُسَخَّر کړی شوې ده، خامخا د (هغه) قوم لپاره نښې دي چې عقلمند وي) ١٦۴ [سورة البقرة]

او په دې اړه آيتونه ډېر دي؛

او پند نه اخلي مګر هغه څوک چې عقل کاروي:.

﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٧﴾ [آل عمران: 7]

{ او پند نه اخلي مګر د صفا عقل خاوندان ﴿٧﴾ .[سورة آل عمران].

څوک چې له خپل عقل څخه کار واخلي او په وجود (د مخلوقاتو د ثبوت په دليل) کې وګوري او د موجوداتو په کنټرول او دندو (د پالنې او کمال د ثبوت دليل) کې وګوري نو عقلاً به د خالق د شتون پر استدلال قطعي پريکړه وکړي.

6- ولې د انسانانو او نورو ژونديو موجوداتو سرچينه لومړني ډير ساده کائنات ندي؟

ج: دلته دوه ستونزې دي:

لومړی ستونزه: دا چې د يو ډول ژونديو موجوداتو نورو ته د ليږد لپاره يو رغنده دليل هم شتون نه لري، دا خو لا پريږده چې دومره لوی حيرانوونکی ټوپ ووهل شي چې ګويا انسانان له ابتدايي مخلوقاتو څخه منځته راغلي دي.

نو يو ملحد څنګه کولی شي پداسې يو نشت اټکل باور وکړي، او هيڅ مستقيم دليل و نه مني، او زموږ له عقلي ديني استدلال څخه انکار وکړي؟.

دویمه ستونزه: د لږ تر لږه جین سیټ مفکورې (Minimum gene set concept) له مخې، امکان نه لري چې هیڅ ژوندی موجود ، که هر څومره ساده وي، له 200 جینونو څخه دې کم وي.

او د جینونو لږ تر لږه شمیره دا ده: د جینونو لږترلږه اندازه چې له هغه پرته هیڅ ژوندیزی مخلوق ژوند نشي کولی!

نو هیڅ ژوندی ارګانیزم به شتون ونلري که چیرته د جینونو شمیر له لږ تر لږه څخه د یو جین په اندازه هم کم وي .جین یو معلوماتي فیته (کاسیټ) دی چې ډیری جینیاتي کوډونه لري چې معلومات کوډ بندي کوي. د ژوند لپاره لږ تر لږه جینونه اړین دي تر څو، د دې جینونو یوه ډله د انرژۍ لپاره کوډ بندي کوي - ځکه چې له انرژۍ پرته هیڅ ژوندی ژوند نه شي کولای- او د جینونو یوه بله ټولګه د خوړو لپاره کوډ بندي کوي، او ځیني نور بیا د تولید لپاره کوډ بندي کوي، او نور د ژوند د بنسټیزو دندو لپاره کوډ بندي کوي، او همداسې! ساینس پوهانو د ژوند لپاره د اړینو جینونو د لږترلږ شمیر لپاره محاسبه کړې، او معلومه کړې یې ده چې دا باید له دوه سوو جینونو څخه کم نه وي.

د کریګ وینټر فاونډیشن دې پایلې ته رسیدلی چې د جینونو لږ تر لږه شمیر له درې سوه او دوه اتیا جینونو څخه کم نه وي [1]. ساینس پوهانو موندلې چې مایکوپلازما (Mycoplasma )، کوم چې د زمکې پر مخ ترټولو کوچنی ژوندی موجود دی؛ 468 جینونه لري.

[1] . J. Craig Venter Institute (JCVI) conducted a study to find all the essential genes of M genitalium through global transposon mutagenesis. As a result they found that 382 out of .protein coding genes were essential 482

که دا یوازې د مادې مسأله وي او بس، او نړۍ یوازې یو فزیکي سیسټم وي، نو موږ باید له صفر جین څخه پیل وکړو، که موږ غواړو چې له هایدروجن څخه انسان ته ور انتقال شو!

مګر ساینس موږ ته وایي چې له صفر جین، یو جین، یا حتی سل جینونو په څیر هیڅ شی شتون نلري، ساینس وایي: موږ لږترلږه د معلوماتو لوی سیټ ته اړتیا لرو، که نه نو ژوندی موجود به له پیل څخه څرګند شوی نه و.

په طبیعت کې هیڅ شی ابتدایي ندی، مګر هر سیسټم د خپلواکې جذبې سره پیل شوی!

دا حیرانتیا به د معلوماتو په سیسټم کې پاتې شي چې د مخلوقاتو له څرګندیدو دمخه یې کوډ بندي کوي، او دا به تل د الحاد په مخ کې یوه خنډینه ډبره پاتې شي، د هغوی په مخ کې به خنډینه ډبره پاتې شي چې د الله تعالی له خالقیت څخه منکر دي.

تاسو د 4 ملیارده تخصصي معلوماتو مخې ته قرار لرئ - هغه معلومات چې ستاسو د هرې حجرې په نیوکلیوس کې شتون لري - د دقیقو حیاتي دندو د تولید لپاره.نو ملحد دا تصور کاوه چې داسې مخلوقات شتون لري چې له صفر جین څخه پیل شوي، مګر د لږ تر لږه جینونو نظریه د دې تصور د له منځه وړلو لپاره راغله.ژوندي موجودات د لومړۍ شیبې څخه د کاري پیچلتیا سره راڅرګند شول، که نه نو دوی به له پیل څخه راڅرګند شوي نه و.

7-د پاملرنې او مهارت د مثالونو بیلګې کومې دي؟

ج: بې شمېره بیلګې لري. چې د زمکې کتابچې ورته بسنه نه کوي:.

﴿وَلَوۡ أَنَّمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن شَجَرَةٍ أَقۡلَٰمٞ وَٱلۡبَحۡرُ يَمُدُّهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦ سَبۡعَةُ أَبۡحُرٖ مَّا نَفِدَتۡ كَلِمَٰتُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٢٧﴾ [لقمان: 27]

{ او كه په رښتيا سره هره هغه ونه چې په ځمکه کې ده، قلمونه شي، په داسې حال کې چې (سیاهي شي) دغه (محیط) بحر، (بیا) د ده مدد نور اوه بحرونه وکړي (نو) د الله کلمات به خلاص نشي، بې‌شکه الله ښه غالب، ښه حکمت والا دی ﴿۲۷﴾ [سورة لقمان.].

په کایناتو کې هر اتوم (وړه ذره) د هغه د پاملرنې نښه ده دا چې موږ نن پدې حقیقت پوهیږو او یا سبا.

أ ـ انسولین ـ د ګلوکوز هضمولو هورمون ـ دی چې پانقراس يې ستاسو لخوا د خوړل شوی خوړو په اندازه تولیدوي.

ب ـ د زړه د وینې د پمپ کولو ځواک د هغه انرژۍ سره مساوي دی چې عضلات ورته د ویستل شوي زحمت په اندازه اړتیا لري

ج ـ ستاسو د معدې تنګه خوله ترڅو خواړه بیرته ستاسو خولې ته راونه ګرځي چې له امله به يې په تکلیف شئ.

د راوتلو بنده خوله تر څو مو کالي وخت په وخت ناپاکه نه شي. ای – ستا د کوپړۍ هډوکي تر هغه وخته پوري سره نه ورځي تر څو چي د مور له رحم څخه په خوندي او آسانۍ سره راښکته شوی نه يې، ځکه که چیرې یو ځای شوي وای، نو تر هغه وخته به د

مور له رحم څخه راوتلی نه وي تر څو چې هډوکي مات شوي نه وي، او هغه هډوکي تر هغه پورې وده نه کوي تر څو چې د دماغ وده بشپړه شوې نه وي.

و - ستاسو د اعصابو ټول محورونه، کوم چې بریښنایی سیګنالونه لیږدوي، جلا پردې سره پوښل شوي - لکه څنګه چې موږ اوس د بریښنایی تارونو سره کوو - ترڅو بریښنایی سیګنال ټوټه ټوټه، ورک یا ګډوډ نشي.

الکترون په هره ثانیه کې د زر کیلومترو په سرعت سره د نیوکلیوس شاوخوا ګرځي، که نه نو دا به د مثبت نیوکلیوس سره د جذب د ځواک له امله په نیوکلیوس کې راښکته شي او کاینات به له پیل کیدو د مخه سقوط وکړي او دا د اتوم جوړولو لپاره نمونه یی سرعت دی.

H-کله چې دوه هایدروجن اتومونه سره ونخلي ، د هایدروجن 0.007٪ کتله په انرژۍ سره بدلیږي، او که دا اندازه د 0.007٪ پرځای 0.006٪ وي، نو پروټون به د نیوټرون سره یوځای نشي، او کائنات به یوازې هایدروجن پاتې شي، او پاتې عناصر به نه ښکاري، حتی که بدله شوې ډله د 0.007٪ پرځای 0.008٪ انرژي ته ورسیږي، یوځای کول به خورا ګړندي وي، چې دا به د کائنات څخه د هایدروجن سمدستي ورکیدو لامل شي، او ژوند به یې ناممکن کړي. نو شمیره باید د 0.006٪ او 0.008٪ ترمنځ وي.

i-د الکترون ماس (Electron mass) کتله، د نیوټرون ماس (Neutron mass)د کتلې 0.2٪ استازیتوب کوي، او دا د اتوم د جوړښت لپاره معیاري کتله ده.

ي- تېغونه له ټوکیدو وروسته نبغ په نبغه د رڼا لور ته مخ کوي او ریښې یې ښکته ځي، ځکه چې تېغونه د رڼا په وړاندې خورا حساس دي، او ټول هغه معلومات چې دوی یې د دندې ترسره کولو ته اړتیا لري د تخم دننه کوډ شوي، او داسې هورمونونه شتون لري چې

د نبات پورتنۍ او شاته وده کنټرولوي او د ريښو په لور، او دا ټول هم د تخم دننه کوډ بندي شوي دي.

ک- په داسې حال کې چې تاسو خوږه ميوه خورئ او بيا يې وچ کلک او بې خونده زړی له ځان څخه لرې ګذاروئ، پدې کار سره تاسو هغه مېوې ته اجازه ورکوئ چې په خپلو جينونو کې يو نظر واچوي؛ هغه مهال ميوه تاسو ته يو خوږ خوند درکوي پداسې حال کې چې خپل جينونه پټوي - کوم چې د هغه د ژوند اصل دی - د وچ او خويه زړي دننه چې تاسو ته نه ښکاري، نو کله چې تاسو دا وچه دانه په زمکه وغورځوئ تر څو - په کار پيل وکړي- ځکه دا مهال د ميوې د ونې د تشکيل لپاره ورته شرايط برابر شي؛ هغه ونه چې ښاخونو، ونو او ريښنو ټولو ته شامليږي د ميوه لرونکي ونې په جوړولو پيل کوي، دا ټول کارونه په هغه نباتاتو کې پيښيږي چې په هيڅ نه پوهيږي.

ل - دې ګونګې او کڼې ميوې ته چا معلومات برابر کړل تر څو ستاسو د خوښې سره سم د خوږوالي اندازه برابر کړي، چې خوړلو ته مناسبه وي؟

بيا: دا زړی (تخم) چا بدرنګ او د نه خوړلو وړ وګرځاوه، تر څو يې له خوړلو ډډه وکړئ او لرې يې وغورځوئ؟ بيا: چا زړی (تخم) له ارثي جينياتي معلوماتو نه ډک کړ تر څو د ټولو توضيحاتو او دندو سره يو نوی نبات وزيږوي؟ م - په وروستيو کې ښکاره شوه چې: هغه ذاتي قصور او بې کاري چې مونږ يې په ښېګڼو کې ژوند کوو؛ په ټوله کې د کائناتو د کتلې زيږنده ده.ذاتي قصور څه ته وايې؟

که چېرته تاسو په موټر کې سپاره شئ او ناڅاپه موټر ودريږي، څه پيښيږي؟

مخ په وړاندی ټيله کيږي! همداسې نده؟ همدې ته بې کاري او ذاتي قصور وايي.

که زمونږد نړۍ ذاتي قصور د اوس په پرتله لږ وای، د هوا ساده باد به کولی شول چې ډېرو ته حرکت ورکړي، او لکه دا زمونږ د نړۍ په څېر به په دوامداره توګه په هر ډول شیانو سره ویشتل کېدو.

که چیرې فعالیت د اوس په پرتله لدې خورا لوی وی چې اوس دی، نو موږ به حتی خپلو ګوتو ته حرکت هم نه شو ورکولی. د ذاتی قصور پیاوړتیا او یا عدم فعالیت د کتلې سره تړلي دي.

هغه څه چې فزیک پوهان یې حیران کړي دا دي چې (د شیدو لار نومي کهکشان؛ هغه چې زموږ لمریز نظام یې احتوا کړي، یوازې د 0.1 ملیون په واسطه د عدم فعالیت په کنټرول کې برخه اخلي، پداسې حال کې چې د ځمکې کتله یوازې د 0.001 په ملیون کې د عدم فعالیت په کنټرول کې ونډه لري. نمونه ایی عدم فعالیت؛ هغه چې پر مټ یې موږ ژوند کوو، او د هغې له لارې موږ خپل ټول فعالیتونه تر سره کوو، هغه د ټولو کائناتو د انرژۍ د ټولګې محصول دی:.

﴿وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا بَٰطِلٗاۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنَ ٱلنَّارِ٢٧﴾ [ص: 27]

{ او مونږ اسمان او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مینځ کې دي داسې نه دي پیدا کړي، چې باطل (او عبث) دي دغه (باطل پیدا کول) د کافر شوو خلقو ګمان دی، نو دا د کافر شویو خلقو لپاره له اوره هلاکت (او عذاب) دی [سورة ص.].

هر ځومره چې ساینس پراختیا مومي، په هماغه کچه د حکمت معجزې او د مخلوقاتو باریکیاني راڅرګندیږي[2] !

ن- او کله چې سترګو ته پام وکړو څه به ومومو:

هغه (لوی) نعمت چې ارزښت یې نه اندازه کیږي:.

﴿أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ۝٨﴾ [البلد: 8]

{ آیا مونږ ده ته دوه سترګې نه دي ورکړي ﴿٨﴾. [ .سورة البلد.].

د سترګو دقت (ریزولوشن): د پنځه سوه او شپږ اویا میګا پکسل سره برابر دی.

سترګې په نړۍ کې تر ټولو پاک لینز لري.

په شبکیه کې د نور اندازه کوونکی له نیم ملیمتر مربع څخه زیات ندی، او پدې سره د لس میلیونه رنګي درجو تر منځه له بېلابېلو بُعدونو څخه توپیر کوي، دا په حقیقت کې یوه معجزه او په زړه پورې الهی خلقت دی.

او کله چې تاسو خپل مخ ته یو څه وګورئ او رڼا د سترګې په کسي باندې تیریږي، پدې وخت کې ډیری پیچلې کیمیاوي پروسې ترسره کیږي چې په پایله کې یو بریښنایی جریان تولیدوي، دا جریان ستاسو د سترګو د کسي څخه ستاسو دماغ ته د عصبي تارونو له لارې لیږدول کیږي، او دماغ دلته د دې بریښنایی جریان د فریکونسی تګ راتګ تشریح

2 دا مسأله مایکل ډینټون په خپل کتاب: قدر الطبیعة کې په تفصیل سره څېړلې او دا کتاب د دارالکتب له ژباړل شوو خپرونو څخه دی.

کوي چې دا یو لید دی، ته به وایې چې دا دماغ مخکې له مخکې یو بشپړ د لغاتو قاموس لري چې بریښنایی جریان په لید سره بدلوي هغه څه چې تاسو یې ګورئ.

یو حیرانوونکی شی که تاسو یې په اړه فکر کړی وي!

تصور وکړئ: دا دماغ چې له هډوکو جوړ په تیاره بکس دننه پروت دي - دغه تیاره بکس کوپړۍ ده.

او یوازې بریښنایی جریان ستاسو دماغ ته رسیږي.

نو دماغ څنګه دا جریان د لیدلو په توګه تشریح کوي؟

(دماغ) څنګه تاسو ته لید درکړ؟

دا معجزه په یوه شیبه کې تر سره کیږي، یوازې همدومره چې سترګې دې پرانیزې او وګورې.

عین خبره د اوریدو په اړه هم ده:

لکه څنګه چې د غږ موجونه ستاسو د غوږونو پردې ته ننوځي، د غوږ پرده یې له څپو څخه په میخانیکي حرکت بدلوي، دا میخانیکي حرکت بیا د غوږ په منځ کې د دریو کوچنیو هډوکو له لارې داخلي غوږ ته لیږدول کیږي، کوم چې دا په بریښنایی جریان بدلوي.

دا بریښنایی جریان اوس له داخلي غوږ له منځ څخه دماغو ته لیږدول کیږي، ترڅو دماغ د دې بریښنایی جریان په غږونو کې توپیر پیل کړي، نو تاسو کولی شئ غږ واورئ:!

﴿وَٱللَّهُ أَخۡرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ﴾ [النحل: 78]

( دا ټول هم د یوې ثانیې له یوې برخې څخه په کمه موده کې تر سره کېږي {او الله تاسو د خپلو میندو له خېټو نه راووېستئ، په داسې حال کې چې پر هېڅ شي نه پوهېدلئ او تاسو ته یې غوږونه او سترګې او زړونه در کړل، د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ)). (۸۷ [سورة النحل..].

تصور وکړئ چې دماغ هره شیبه د سترګو، غوږونو، لمس، خوند، بوی او د بدن له مختلفو برخو څخه په زرګونو بریښنایی سیګنالونه ترلاسه کوي، ترڅو د دې ټولو سیګنالونو ترمنځ په ډیر دقت ډول سره توپیر وکړي:.

﴿هَٰذَا خَلۡقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ بَلِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ١١﴾

[لقمان: 11]

{ دغه د الله مخلوق دی، نو تاسو (ای مشرکانو!) ما ته وښایئ څه شی دی هغه چې دغو (بتانو) پیدا کړی دی، چې غیر له هغه (الله) نه دي، بلکې ظالمان په ښکاره ګمراهی کې دي) .۱۱] سورة لقمان.].

﴿ صُنۡعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَيۡءٍۚ إِنَّهُۥ خَبِيرُۢ بِمَا تَفۡعَلُونَ ٨٨﴾ [النمل: 88]

{ (وګورئ) کاریګري د الله هغه چې هر شی یې محکم کړی دی، بېشکه هغه ښه خبردار دی په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ) .۸۸[سورة النمل].

ځوک دی هغه چې د الله له نعمتونو دې يو وشماري؟

ستاسو په بدن کې د هر بند او هر هډوکي په اړه فکر وکړئ کوم چې تاسو ته اجازه درکوي چې په اندازه يې حرکت وکړئ!

د هغه خويه بندونو په اړه فکر وکړئ چې تاسو ته اجازه درکوي حرکت وکړئ پرته لدې چې هډوکي يو له بل سره د احتکاک له امل وخوړل شي، هغه بندونه چې الله تعالی په کې د مايع په ځير غوړ جمع کړي لکه د ماشينونو په پرزو کې چې (ګريس ) کارول کيږي!

د الله پاک په نعمتونو کې فکر وکړه، پداسې حال چې غور کوونکی او د هغه پر نعمتونو شکر ويستونکی يې.

د الله نعمتونه بې شمېره دي:.

﴿أَلَمۡ تَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَأَسۡبَغَ عَلَيۡكُمۡ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةٗ وَبَاطِنَةٗۗ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا هُدٗى وَلَا كِتَٰبٖ مُّنِيرٖ ٢٠﴾ [لقمان: 20]

﴿ آيا تاسو نه دي کتلي چې بې‌شکه الله تاسو لپاره په کار اچولي دي هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او پر تاسو باندې يې خپل نعمتونه، چې ظاهري او باطني دي پوره کړي دي او په خلکو کې ځينې هغه دي چې د الله په اړه جګړه کوي، بې له علمه او بې له هدايته او بې له روښانه کتابه) ٢٠ [سورة لقمان].

٨- ځيني ملحدان د پاملرنې دليل باندې نيوکه کوي، وايي داسې شيان شته چې مثالي نه دي، لکه: ناروغي او زلزله؟

ځواب: په کايناتو کې د کاملو شيانو نشتوالی، د ملحد په وينا، د بشپړتيا شتون نه رد کوي.

بلکه دا پدې سره د بشپړتيا شتون تائيدوي.

که په ټوله کې مهارت اصل او اساس نه وي، ملحد به د غير ماهره شيانو شتون اصلا نه و احساس کړی.

نو څنګه تاسې پداسې يوه نړۍ کې چې تصميم پکې نه وي؛ په تصميم کې د عيب خبره کوئ؟

دا چې دوی يې په عدم مهارت سره نوموي نو دا د پوهې کمي ده او يا د شيانو د حکمت په درک کولو کې کموالی ده.

مؤمنان دا نه وايي چې کاينات کامل دی، او هيڅ آفت پکې نه رامنځ ته کيږي، لکه وايي: کائنات بشپړ دي نو هيڅ شی پکې پرته له هدف څخه نه رامنځ ته کيږي.

د ملحد دریځ د هغو کسانو په شان دی چې په فضایي بېړۍ کې له مهارت څخه انکار کوي ځکه چې په هغه کې په زیاته اندازه نفتي مواد شته چې کېدای شي هره شیبه بیړۍ ته چاودنه ورکړي[3] ! .

او نړۍ داسې نده جوړه شوې چې تلپاتې او همیشنۍ نړۍ دې وي، او مونږ داسې نه یو جوړ شوي چې معبودان وګرځو.

بلکه زمونږ جوړښت داسې شوی چې په خیر او شر سره وازمایل شو:.

﴿ وَنَبۡلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلۡخَيۡرِ فِتۡنَةٗۖ وَإِلَيۡنَا تُرۡجَعُونَ ٣٥ ﴾ [الأنبياء: 35]

{ او مونږ تاسو په شر او خیر سره ازمایو، ازمایل، او تاسو به خاص مونږ ته راګرځول کېږئ .[سورة الأنبياء.].

ښه او بد او هره فتنه چې د الهي حکمت او ارادې په چوکاټ کې ګرځي.

۹- کوم خنډ به وي که چېرته یو مادي سبب شتون ولري چې نړۍ یې رامنځته کړې وي؛ د بیلګې په توګه: یو بل تمدن، او یا یو بل شی؟ ولې په ځانګړې توګه ابدي معبود؟

ج: یو قاعده ده چې د اسلامي علماوو له خوا څه دپاسه زر کاله مخکې رامنځته شوې ده، دا قاعده وایي: د کارکونکو تسلسل د یو کار د نه واقع کېدو لامل ګرځي]۵. ]

[3] په عصري فلسفه کې د مذهب د انتقاد پدیده، دکتور سلطان العمیری، د دکتورې رساله ده.

په عاملانو (کار تر سره کوونکو) کې ترتیب، یعنې: د ډېرو جوړوونکو شتون، او پدې پوښتنه کې موږ سره یو بل تمدن شته او یو بل تمدن چې له دوی وړاندې یې تولید درلوده او بل تمدن چې لدی ټولو وړاندې یې تولید درلوده او همداسې نور... دا یو ترتیب دی په جوړوونکو (خالقانو) کې.

دا پرله پسې والی خامخا د کارونو د نه تر سره کولو خنډ ګرځي.

د کارونو نه تر سره کېدل یعنې: لکه د کایناتو، انسان او داسې نورو مخلوقاتو نه رامنځته کېدل.

په کارکوونکو کې پرله پسې والی د کایناتو او موجوداتو نه راښکاره کېدو ته زمینه برابروي.

که چېرته د یو تمدن د رامنځته کېدلو لپاره بل تمدن شرط وي تر څو یې رامنځته کړي، او د بل تمدن رامنځته کېدل له هغه وړاندې په بل تمدن پورې تړاو ولري تر څو یې رامنځته کړي او همداسې تر لا یتناهی پورې، نو نه به دا تمدن رامنځته شي او نه لدې وړاندې بل، او بالاخره نه به وجود رامنځته شي او نه کوم بل څیز.

ځکه د هر تمدن رامنځته کېدل له هغه وړاندې د بل تمدن پورې تړلي دي او په همدې ډول به هیڅکله نه کوم تمدن رامنځته شي او نه کوم بل شی.

نو پرته له لومړني ابدي خالق څخه بله لاره نشته؛ هغه چې ټول شیان یې پیدا کړي دي.

که چیرته یو اوږد ځنځیر وي او په ځنځیر کې هره کړۍ له هغې مخکې د بلې کړۍ پورې تړلې وي، نو هیڅ ډول مخلوقات، پیدابښت او موجودات به پیدا نه نشي، ځکه چې د یو کاریګر شتون به له هغه وړاندې د بل کاریګر پورې تړلی وي او مخکنی به له هغه

وړاندې د دواړو پورې تړلی وي او همداسې ورپسې... او پدې توګه به هيڅ شی پيدا نه شي.

نو ځنځير بايد خامخا په يو ځای کې ودريږي.

دلته موږ د لومړي خالق په شتون باوري کيږو؛ هغه چې هيڅ شی ورڅخه مخکې نه دی!

۱۰- موږ هغه قوانين پيژنو چې کائنات اداره کوي او موږ د زلزلو لاملونه هم ښه پيژنو، نو کله چې قوانين پيژنو ولې خالق ته اړتيا ولرو؟

ج: ملحد ګمان کوي چې قوانين د کايناتو د پيدا کولو او ظهور لپاره بسنه کوي، او ځينې ملحدان د "جاذبې د قانون" په نظريه تکيه کوي چې ګويا دا د کايناتو د ظهور لپاره کافي دی، که څه هم دا ادعا د جاذبې د قانون په سرچينه کې په مجرد فکر کولو سره په خپل ذات کې ناچله ده، يا دا چې چا قانوني کړ، او يا چا د مداخلې او د اغيزې د ښکاره کېدلو صفت ورکړ.

د لومړنيو منل شوو چارو څخه صرف د جاذبې د قانون له مخې ناشونې ده چې د بليارد توپ دې په خپله ولوبيږي.

قانون په خپل ځان کې له هر څه څخه عاجز دی تر دې چې يو شی ښکاره شوی نه وي.

د جاذبې قانون به د بليارډ توپ توليد نکړي، مګر يوازې هغه ته حرکت ورکوي کله چې ښکاره شي او د بليارډ لرګي سره ووهل شي.

نو د جاذبې قانون یو خپلواک شی ندی، بلکې د طبیعي پېښې وصف ده.

او د جاذبې قانون به د بلیارډ توپ ته پرته له هغه ځواک څخه حرکت ورنکړي چې د بلیارډ په لرګي کوم فشار راوړل کیږي او حرکت ورکوي، او یوازې دلته د بلیارډ توپ حرکت کوي او د جاذبې د قانون اغیز څرګندیږي.

مګر یو ملحد فکر کوي چې د جاذبې د قانون شتون د بلیارډ توپ، بلیارډ لرګیو او د توپ لوبولو لپاره کافي دی!

د دې کائناتو د ظهور په سبب کې کوم یو دلیل او منطق ته نږدې دی: خالق یا قانون؟

په ورته ډول، د موټر د انجن دننه د احتراق (سوځیدلو) قوانین دي چې هیڅکله به د موټر انجن رامینځته نه کړي.

که موږ د موټر ماشین ته د داخلي احتراق قوانین وراضافه کړو، نو موټور به هم کار ونکړي، نو دلته باید بنزین شتون ولري، کوم چې انرژي ورکوي، او د احتراق لپاره باید یوه سپرغۍ شتون ولري، او مخکې له دې باید ماشین شتون ولري، او یوازې دلته د داخلي احتراق قوانین څرګندیږي او موټر کار کوي!

دا معقوله نده داسې فرض شي چې د داخلي احتراق قوانین د موټور، د احتراق سپرغۍ، ګازو، بنزینو، د موټر چلوونکو او لارې لپاره بسنه کوي.

نو هغه مفکوره چې قانون د کائناتو د ظهور د تشریح لپاره بسنه کوي دا هغه نظر دی چې په هیڅ شی کې د ذهن سره اړخ نه لګوي.

سربيره پردې، که موږ دا مفکوره فرض کړو، دا به موږ ته د عاملانو لړۍ (تسلسل) ته وروګرځوي چې موږ د تېرې پوښتنې په ځواب کې تشريح کړې، نو دا قانون چا رامينځته کړی او چا پيدا کړی، او که دوی ادعا وکړي چې دا بل قانون دی، موږ به د عاملانو لړۍ (تسلسل) ته بيا وروګرځوي کوم چې وايې هيڅ قانون يا کوم مخلوق به ونه موندل شي.

۱۱- څه شی مانع ګرځي چې تصادف دې د کائناتو د رامنځته کېدو سرچينه وي؟

ج: د تصادف نظريې منل د شونتياوو په اصل ناپوهي ده؛ ځکه چې تصادف دوه نه جلا کيدونکي شرطونه لري.

او هغه: وخت او ځای دی.

تصادف وخت ته اړتيا لري تر څو پکې اغيزه وکړي.

همدارنګه په يو ځای کې فزيکي شتون ته اړتيا لري تر څو خپل تاثير توليد کړي.

څنګه کولی شو ووايو چې تصادف د کايناتو په جوړولو کې رول لري، پداسې حال کې چې موږ پرته له وخت او ځای څخه منځته راغلي يو؟

د تصادف اغيز به څنګه څرګند شي پرته لدې چې تصادف خپله راڅرګند شي؟

نو تصادف څنګه اغيزه درلودلای شي وړاندې لدې چې شتون ولري، پداسې حال کې چې د وخت او ځای شتون د تصادف لپاره بنسټيز شرطونه دي؟

۱۲- هغه ملحد ته څنګه ځواب ووايو چې وايي کاينات ابدي دي؟

ج: د ترمو ډیناميک د دويم قانون - Second Law of Thermodynamic - له مخې دا ناشونې ده چې کائنات ابدي وي.

د دې قانون د ساده کولو او تشريح لپاره دا مثال وړاندې کوو: که تاسو په خونه کې يو پياله ګرمې اوبه ولرئ، تودوخه به د ګرمو اوبو څخه د خونې فضا ته خپره شي تر څو د خونې تودوخه د پيالې د حرارت له درجې سره مساوي شي. همدا د ترموډيناميک دويم قانون دی، چيرته چې تل د وخت په اوږدو کې انرژي له پورته څخه ښکته لور ته تيريږي.

دا قانون د کايناتو له پيدا کيدو راهيسې هره شيبه د کائناتو په هر شی کې واقع کيږي، تر څو په کائناتو کې د ټولو شيانو د تودوخې درجې سره برابره شي، او کله چې په کائناتو کې د هر څه تودوخه سره برابره شي، هغه څه د کائناتو د حرارتي مرګ -Thermal Death of Universe- په نوم ياديږي رامنځته کيږي. نو که چيرته کائنات تلپاتې ول نو بايد سمدلاسه په - حرارتي مړيني سره - ودريدلی وای مګر په حقيقت کې کائنات اوس د اعظمي انټروپي څخه کم حالت کې دی ، او لاهم حرارتی مرګ ته ندی رسيدلي، نو دا ابدي نه دی ، بلکه يو ثابت پيل لري چې وخت او ځای ورسره هم مهاله رامينځته شوي دي.

د همدې قانون له مخې ثابته شوې چې کائنات په لږ تر لږه انټروپي کې پيل شوي، او دا پدې معنا چې کائنات له مخکنی بيلګې پرته رامنځته - پيدا - شوي.

نو دا ساينسي قانون په يو اړخ او د الحاد قانون په بشپړه توګه په بل اړخ کې قرار لري.

۱۳- ولې په خالق باندې د سببيت قانون نه تطبيقيږي؟ يا په بل عبارت: خالق چا پيدا کړی؟

ج: لومړی: پر خالق باندې د خپلو مخلوقاتو قوانین نه پلی کیږي او دا یو منل شوي خبره ده.

که داسې وه نو مونږ به ویل چې: آشپز چا پوخ کړی دی؟

او رنګمال چا رنګ کړی دی؟

نو دا منل شوي ده چې هغه پاک ذات په خپله د وخت او ځای پیدا کوونکی دی، نو هغه څه یې چې پیدا کړي دي د هغوی قانون پرې نه تطبیقیږي.

دویم: دا ریښتیا دي چې هر نوی شی یو پیدا کوونکی لري؛ او دا سمه خبره ده؛ مګر خالق:

﴿ لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ ﴾ [الشورى: 11]

{ نشته د هغه په مثل هیڅ شی .[سورة الشورى]

دریم : خالق نوی ندی - بلکه ابدي دی، نو څنګه ویلی شو چې هغه چا پیدا کړی؟)١(

څلورم: خالق باید ابدي او واجب الوجود وي، که نه نو موږ به په ستونزه کې پریوتي وو چې هغه د " فاعلانو ترتیب دی د کوم پایله چې خامخا د کارونو نه ترسره کیدل راوځي، دا هغه څه دي چې لږ وړاندې مو په بشپړه توګه تشریح کړل، نو خامخا باید لومړنی واجب الوجود خالق شتون ولري.

۱۴- کائنات خورا لوی دي؛ موږ څنګه کولی شو پخپل دې وړوکي حجم سره پدې پراخه کائناتو کې د بسنت یا مرکز حیثیت ولرو؟!

ج: ملحد بې ځایه انګیرنه کوي او وايي: سره لدې چې کائنات لوی دي، نو انسان په دې کایناتو کې مرکز نه دی!

دا انګیرنه یو مقدمې ته لاره هواروي: څرنګه چې کرنیزه زمکه پراخه ده او بزګر خورا کوچنی دی، نو: هغه یې مالک نه دی!

خبره په مطلق ډول د اندازې نده.

سره لدې چې اخلاق کومه فزیکي اندازه نلري، ولې بیا هم د درندو او سپکو خلکو تر منځ د توپیر لپاره تر ټولو ستر معیار دی.

لدې امله خلک په اخلاقو سره تلل کیږي.

نو د حجم او اندازې خبره اصل ندی.

راځئ چې دا مثال وړاندې کړو: که چېرته یو پاچا ولرو او دا پاچا خپل زوی ته ځیني وصیتونه او نصیحتونه وکړي، او پدې اړه ورته یو لیک ولیکي، نو آیا شوني ده چې څوک دې اعتراض وکړي او ووایي: څنګه کیدی شي چې یو پاچا دي بې حسابه او په میلونونو جریبه پراخه زمکې ولري او بیا دې خپل یو کوچني زوی ته په پاملرنې سره دا هر څه هغه ته ورکړي سره لدې چې د زوی حجم او اندازه یې د جایدادونو په پرتله په ملیون کې د یو فیصد په اندازه هم نده.

او الله تعالی لره تر ټول لوړ صفات دی.

نو آیا دا په حقیقت کې معقول اعتراض دی؟

نو خبره د اندازې او وزن نده.

بیا آیا دا کائنات په ملیاردونو څلې د ستنې له سر څخه له کوچنۍ نقطې ندي پیل شوي، لکه څنګه چې د نړۍ ټول فزیک پوهان دا مني ؟

نو اندازه نسبي خبره ده.

نو ملحد ته څه تاوان دی پدې کې چې الله تعالی د خپلې خوښي مطابق هر رنګ چې وغواړي یو څه پیدا کړي؟

آیا الله تعالی د سرچینو له کمبود سره مخ دی، تر څو یې په اندازه مصرف کړي؟

الله جل جلاله تر هغه ډېر لوی دی.

لیکن آیا واقعا موږ پدې کائناتو کې د مرکز حیثیت لرو؟

هو، ته ای انسانه : په الهي مکلفیت سره پدې کائناتو کې مرکز یې.

او الهي مکلفیت: دین دی.

دین هغه امانت دی چې تا اخیستی دی، او دا ترټولو لویه ازموینه ده چې په ادا کولو یې ته مکلف یې.

نو ته اې انسانه د الله تعالی پر بندګۍ مکلف یې او پدې سره به ته د دې کائناتو مرکز وګرځې، نو ته د دې کائناتو مرکز یې خو په حجم، ځواک او وړتیاوو نه؛ بلکې په الهي مکلفیت سره.

او ته د نیکۍ کولو او بدیو پریښودلو توان لرې ... هغه څوک چې د ایمان او کفر دواړو توان لري.

موږ تول پوهیږو چې مکلف یو، که وغواړو او یا ونه غواړو!

ملحد، مومن او اګنوستیک هر یو پوهیږي چې مکلف دی او د الهي مکلفیت احساس کوي، او د اخلاقي ضمیر له رنځ څخه کړیږي، او پوهیږي چې د هغه دننه: وکړه او مه کړه ... ښه کوه او بد مه کوه، مونږ هر یو د خپل ځان پر حقیقت پوه یو چې مکلف یو!

مونږ په تکلیفي ډول د دې کائناتو په مرکز کې یو!

همدارنګه، موږ د دې کائناتو په مرکز کې په ادراکي او شعوري بڼه یو، موږ پوهیږو، احساس کوو، منطقي یو او د خپل موجودیت پر حقیقت او زموږ په شاوخوا کې د کایناتو پر حقیقت پوهیږو، او موږ د خپل شتون په معنی ښه پوهیږو.

موږ غوښتونکي یو، په ګناه نیوونکي یو، مکلف یو، حساب به راسره کیږي.

موږ هغه مخلوق چې (د الله لخوا) په پاملرنې سره په حیرانوونکي توګه چمتو کول درک کوو، مونږ هغه څوک یو چې (الهي) زیرکتیا ته مو پام دی، مونږ هغه څوک یو چې د هغه څه په ترسره کولو قادر یو راسپارل شوي، او یا دا چې له مکلفیت څخه انکار وکړو، موږ د ایمان او کفر توان لرو.

مونږ د دې کائناتو په مرکزیت کې یو:.

﴿إِنَّا عَرَضۡنَا ٱلۡأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱلۡجِبَالِ فَأَبَيۡنَ أَن يَحۡمِلۡنَهَا وَأَشۡفَقۡنَ مِنۡهَا وَحَمَلَهَا ٱلۡإِنسَٰنُۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومٗا جَهُولٗا ٧٢﴾ [الأحزاب: 72]

{ بېشکه مونږ آسمانونو او زمکې او غرونو ته امانت وړاندې کړ، نو دوی د ده له پورته کولو نه انکار وکړ او له ده ووېرېدل او انسان دغه (امانت) پورته کړ، بېشکه دغه (انسان) ډېر ظالم، ډېر نادان دی، [سورة الأحزاب.].

۱۵- ځینې ملحدین وایي: سیارې ډېرې دي، نو د احتمالاتو د نظریې له مخې طبیعي ده چې د ژوند لپاره دې مناسبه سیاره شتون ولري... آیا دا استدلال صحیح دی؟

ج: د ډیرو سیارو شتون د پاملرنې پر دلیل د انتقاد سره څه تړاو لري؟

خبره د لومړنیو موادو نه ده.

داسې نده چې زه پداسې یو ځنګل کې اوس چې له ټولو سبزیجاتو، میوو او حیواناتو ډک وي، دا پدې معنا نده چې د ځنګل په مینځ کې دې ناڅاپه زما په وړاندې د خوندور پخلي د خوړو لوښی رابنکاره شي؛ خبره د خامو موادو نده!

همدا رنګه د نړۍ په دښتو کې پریمانه شګې پدې معنا ندي چې زه دې په دښته کې له شګو جوړ ډیجیټلي پروسیسرونه او الیکترونیکي چپسونه خپل خوا او شاته په هر ځای کې په دښته کې ومومم.

نو خبره د خامو موادو نده؛ خبره د جوړښت او زیرکتیا ده.Know how

یوازې د ستورو د ټولګې شتون د دې لپاره بسنه نه کوي چې تر منځه دې پداسې زیرکتیا سره یو ستوری رابنکاره شي لکه زمکه.

خبره د کلکوالي، وجود ته راوړلو او هنري جوړښت ده:.

﴿وَتَرَى ٱلۡجِبَالَ تَحۡسَبُهَا جَامِدَةٗ وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِۚ صُنۡعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَيۡءٍۚ إِنَّهُۥ خَبِيرُۢ بِمَا تَفۡعَلُونَ ٨٨﴾ [النمل: 88]

{ (وګورئ) کارېګري د الله هغه چې هر شی يې محکم لګړی دی، بېشکه هغه ښه خبردار دی په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ [ سورة النمل].

د ډیری نورو سیارو شتون په مطلق ډول سره د زمکې په کره کې د ژوندون شتون نه توجیه کوي.

د نورو سیارو شتون په تاسو کې د څلور ملیارده حروفو جنیتیکي کوډ نه توجیه کوي، کوم چې ستاسو ټولې دندې، ارګانونه او هورمونونه په حیرانوونکې توګه کنټرولوي، وړاندې لدې چې تاسو په خپله شتون ولرئ!

ژوند معلوم - شی - دی، کومه ماده نده.

او که یو ملحد او زه یوې سیارې ته پورته شو او یو پیچلی ماشین مو کشف کړو چې په اغیزمنه توګه زیرکتیا سره کار کوي، او حتی که موږ لاهم د هغې په دنده نه پوهیږو، آیا د دې ماشین له جوړوونکي یوازې پدې پلمه انکار کېدلی شي چې مونږ په یوه لویه سیاره کې ژوند کوو؟.

نو کله چې موږ دا ماشین وګورو، ذهني وجدان یا فطري عقل ما او ملحد دې وینا ته هڅوي چې یو پیاوړی پیدا کوونکی ذات شته.

ځوک چې لدې فکري وجدان څخه انکار کوي، هغه ځوک دی چې له پیدا کوونکي څخه انکار کوي، نو له هغه څخه دلیل غوښتل کیږي، نه هغه ځوک چې (خالق) ثابتوونکی وي.

په دې ښکلي حیرانوونکو کائناتو کې ملحد هغه ځوک دی چې باید ثبوت وړاندې کړي، نه مومن!

اګنوستیک ملحد کارل سیګن یوځل د "رابطې " Contact/په نوم یو ناول ولیکه ، په کوم کې چې هغه وایي چې ساینس پوهان څنګه له ځمکې د باندې د فضایی زیرکتیا په لټه کې دي.

په افسانوي ناول کې، ساینس پوهانو د لومړیو نمبرونو یوه اوږده لړۍ کشف کړېده چې له فضا څخه دباندې نه راځي؛ او ځکه چې دا ابتدایي ترتیب یو ځانګړي ریاضیاتي ارزښت لري، داسې ارزښت چې یو ډول ترتیب زیږوي، دا د دې پایلې لپاره کافي ذهني دلیل پر دې چې دا پیغام د بل تمدن څخه راغلی و چې هڅه یې کوله له موږ سره اړیکه ونیسي!

د حیرانتیا وړ خو دا ده چې کارل سیګن چې یو مشهور اګنوستیک دی، مګر د هغه ذهن د دې حقیقت منلو ته چمتو دی چې د کوچني پیغام پیچلتیا او ترتیب د تخلیق او مهارت پر دلیل باندې ثبوت دی!

یوازې د لومړنیو شمیرو لړۍ چې د یو لوی تمدن شتون یقیني کوي؛ تاسو څنګه د خپل بدن په هره حجره کې څلور ملیارده حرفونه تشریح کوئ، که چیرې یو حرف کې ګډوډي رامنځته شوې وه نو، یو ناورین به پیښ شوی و؟ تاسو څنګه دا ټول مهارت د ملحد غیر منطقي ویناوو ته منسوبوئ؟

دا هیڅ عقل نه مني چې د یو ملحد خیالي ویناوي دې د دې مانع وګرځي چې په یو معقول چوکاټ کې د هر څه رامنځته کېدل دې د یو خالق په شتون تفسیر کړی شي:.

﴿قُلِ ٱنظُرُواْ مَاذَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَا تُغۡنِي ٱلۡأٓيَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ ١٠١﴾

[یونس: 101]

{ ته (ورته) ووایه : تاسو وګورئ په آسمانونو او زمکه کې څه (څه دلیلونه) دي او هغه قوم ته له آیتونو او وېرروونکو څخه کومه ګټه نه رسیږي چې ایمان نه راوړي [سورة یونس.].

۱۶- ولې ابدي خالق له یو څخه زیات نه شي کېدلای؟

ج: الله تعالی فرمایلي:

﴿لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ ٢٢﴾ [الأنبياء: 22]

{ که چیرې په دغو (ځمکه او اسمان) کې له الله نه پرته نور معبودان وی (نو) دواړه به خامخا وران شوي وو[سورة الأنبياء.].

د الله سره د نورو معبودانو شتون د کثرت غوښتنه کوي، او کثرت یو بل ته اړتیا لازموي.

او د خالق اړ کېدل - الله مه کړه - د کائناتو ناامني لازمي کوي او دا چې خامخا باید سقوط وکړي ... بالاخرة د کائناتو له منځه تلل لازموي.

د اړمن معبود په شتون کې د کائناتو د بقا لپاره هیڅ تضمین شتون نلري!!

﴿لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ٢٢﴾ [الأنبياء: 22]

{که چېرې په دغو (ځمکه او اسمان) کې له الله نه پرته نور معبودان وی (نو) دواړه به خامخا وران شوي وو، نو الله د عرش مالک؛ پاك دی له هغو خبرو چې دوی يې بيانوي ﴿٢٢﴾ [سورة الأنبياء].

خالق له اړتيا او کمي څخه منزه او پاک دی، ځکه چې هغه ذات بدای؛ تلپاتې ځواکمن دی.

تېرو ـدلايلوـ ته دا هم ورزيات کړه: که چېرته په (زمکې او اسمان) کې دوو يا ډيرو معبودانو شتون درلوده، نو عقل وايي چې د جوړجاړې پر ځای به د شخړې احتمال نږدې و، ځکه چې له يو معبود څخه زيات د يوې څخه د ډيرو او څو اړخيزو ارادو او خوښو په معنا ده، او د ارادو زياتوالی يو بل ته اړتيا لازموي، او دا (حالت) د زمکې او اسمان له منځه تلل لازموي).١(

او د انسان فطرت په غوښه وايي چې الله يو دی، او که يو فزيک پوه يا غير فزيک پوه انسان دې کائناتو ته وګوري، نو هغه به يوازې دې کائناتو ته د يو خالق تصور وکړي، او همدا فطرت دی.

ولې دين؟

ج: تر ټولو سخت ملحد په دې باور دی چې ریښتیا له دروغ ویلو غوره دي، آیا همداسې نده ؟

سخت ملحد پدې باور دی چې امانت له خیانت څخه غوره دی، آیا همداسې نده؟

دا هغه اصطلاحات دي چې د دې نړۍ څخه ندي، او په مادي نړۍ کې هیڅ شی شتون نلري چې د دوی معنا یا غوښتنې توجیه کړي.

نو د ریښتیا معنا څه ده ؟

د امانت معنا څه ده ؟

که موږ د اتوم ژوروالی تحلیل کړو آیا موږ به د دې معنی پیدا کړو لکه: ریښتیا او یا دروغ؟

که موږ د کهکشان فزیک یا د هورمونونو کیمیا وګورو، آیا موږ به صداقت یا خیانت وګورو؟

دا اصطلاحات د دې فزیکي نړۍ څخه ندي.

مګر حقیقي اصطلاحات دي.

بلکه، دا له سترو کارونو څخه دي.

د یو انسان ارزښت د هغه په اخلاقو دی، نه د هغه د فزیکي اندازې، د هغه د اتومونو شمیر، یا د هغه د حجرو د انرژۍ کچه.

د انسان ارزښت د هغه دننه الهی حکم ته د هغه په ژمنتیا کې دی.

پدې ارزښت کې د انسان سره لدې مادي نړۍ څخه هیڅ شی ګډون نه لري.

دلته یو ښه سړی او بل بد سړی دی.

خو ښه غر او بد غر نشته.

موږ امانتداره سیاره او غداره سیاره نه وینو.

انسان یوازې په معنا سره ارزښت لري، په معنا هدف سره تړاو لري او په معنا وجود سره تړاو لري.

یوازې انسانان او پیریان پوهیږي چې دوی مکلف دي.

او احساس د اخلاقو په معنا ندی مګر زمونږ په داخل کې یو برخه د الهي فطرتي تکلیف څخه.

نو دین د انسان د پوهاوي لپاره یوه اړتیا ده.

دین یوازینی شی دی چې د اخلاقو معنا توجیه کوي، خو ولې شتون لري، او ولې موږ پر هغې پابندۍ ته اړتیا احساسوو.

یوازینی شی چې اخلاقو ته ښه ورکوي هغه دین دی.

اخلاق یوازې د الهي حکم په چوکاټ کې درک کیدی شي.

دا یوازې د دین له لارې شونې ده پوه شو چې ولې دا په انساني نسل کې فطري دي.

د دین له لارې، موږ د (خپل) شتون په هدف پوهیږو، او موږ پوهیږو چې هغه اخلاق چې موږ یې پیروی کولو ته اړتیا احساسوو، حتی که موږ پرې پابندي ونکړو بیا هم دا د الهي مکلفیت یوه برخه ده.

نو دین د بشریت اړتیا ده.

او د همدې دین له لارې موږ پوهیږو چې موږ ولې دلته یو؟

او موږ پوهیږو چې له مرګ نه وروسته به څه وي؟

موږ د وجود (شتون) په معنی پوهیږو.

آیا موږ پوهیږو چې پدې موجوداتو کې زموږ څخه غوښتنه څخه ده؟

نو دین د هغه څه د پیژندلو لپاره اړین دی چې انسان یې باید تر سره کړي.

نو له دین پرته به ټوله نړۍ په بشپړه توګه په نابینایۍ او بشپړې نابودۍ بدله شي.

ابن القیم رحمه الله فرمایلي دي: په دنیا او آخرت کې خوشالۍ او کامیابۍ ته له پېغمبرانو پرته بل لار نشته، او په بشپړه توګه د پاک او پلیت پېژندل هم ناشوني دي مګر د دوی له اړخه، او د الله تعالی رضایت لاسته راوړل هم ناشوني دي مګر د دوی پر لاسونو باندې[4]؟ "

نو دنیا تیاره او لعنتي ده، پرته له هغه څه چې د دین او د پیغمبرۍ لمر پرې راختلی وي، لکه څرنګه چې شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمایلي دي] ۷. [

---

4 زاد المعاد1-68.

له دین پرته د وجود مقصد نه معلومیږي، خیر او ارزښت معنا نلري.

او پرته له رسالت (پیغمبرانو ) څخه نړۍ په یوه ویروونکي ویجاړۍ سره بدلیږي.

کله چې دین له منځه لاړ شي او خلک له نبوتونو څخه انکار وکړي، نو انسان به د ستورو په څېر په ضایع کیدو بدل شي، لکه څنګه چې کارل سیګن وایي، او په حشره لکه سارتر چې وایي[5].

په حقیقت کې به، انسان په کیمیاوي کثافاتو بدل شي، او په دقیقه معنا سره په کیمیاوي ګندګۍ، لکه څرنګه چې ستیفن هاکینګ وایي [6].

نو نبوت د وجود یوازینی نبض (د زړه حرکات)

دي او له نبوت پرته خورا په زړه پورې اختراعات او خورا خوندور ارمانونه په وحشت بدلیږي!

له دین پرته، نړۍ په خپلې ټولې ښکلا سره په وحشتناکه ویروونکو شکلونو بدلیږي.

او که له هر ملحد څخه د وجود په اړه هره پوښتنه وکړې لکه: موږ ولې دلته په دې نړۍ کې یو یا له مرګ وروسته څه دي؟

---

[5] Video Source: The Shores of the Cosmic Ocean [Episode 1]Some part of our being We long to return. And we can. Because the cosmos is. knows this is where we came from 06. also within us. We're made of star-stuff. We are a way for the cosmos to know itself min 04 sec او دا چې انسان حشره ده نو دا سارتر په خپله ناول ( د تهوع حالت ) کې ذکر کړي دي.

[6] , From an interview with Ken Campbell on Reality on the Rocks: Beyond Our Ken 1995

دا به یا ستاسو پوښتنه په اخوا دېخوا خبرو سره جواب کړي او یا به په بشپړ ډول چپ پاتې شي.

نو دین د انسان د فهم او د اخلاقي ارزښتونو د ضروریاتو د درک لپاره یوه طبیعي اړتیا ده او د وجود په مفهوم او د وجود د مقصد او د الله تعالی د بندګۍ د احساس او د هغه د بندګي درک کول ضروري دي، هغه بندګي چې نجات پرې حاصلیږي.

۱۸- څه شی مانع ګرځي چې دا اخلاق د دماغ یا ټولنې محصول وي؟

ج: مغز کټ مټ د فزیکي نړۍ په څیر د ورته فزیکي برخو څخه جوړ شوی دی!

نو څومره چې دماغ پیچلی وي یا فزیکي جوړښتونه پیچلي وي، نو د صفرونو له مجموعې څخه یوازې یو صفر لاسته راځي.

نو که ماده خیر او شر نه پیژني، دماغ هم همدارنګه دي!

دلته موږ له ملحد څخه پوښتنه کوو: که ټوله مادي نړۍ له اخلاقي پلوه بې طرفه وي او په ښه او بد نه پوهیږي نو د ښه او بد مفهوم څنګه څرګند شو؟

او دویمه پوښتنه: کوم دماغي ممانعت شتون لري چې د ټولو د ځمکې والاو د له منځه وړلو مانع وګرځي؟

څه دماغي ممانعت شتون لري چې د خارویو پنجرو ته د بشري توکمونو د ننوتلو مانع وګرځي.

څه دماغي مانع شتون لري چې د ناروغانو، معیوبینو، ضعیفو او کم عمره نسلونو د له منځه وړلو ممانعت وکړي ، لکه هغه څه چې د نازیانو لخوا د

T4پروژې په ترڅ کې ترسره شول، د اکشن تي فور پروژه-؟[7]

دا هغه پوښتنې دي چې فزیکي دماغ یې په سم یا ناسم سره ځواب نه لري.

دماغ په بشپړه توګه له اخلاقي اړخه بې طرفه دي، ځکه چې هغه پخپله د ځمکې له اتومونو څخه جوړ شوي دي.

نو د مغز او اخلاقو ترمنځ هیڅ اړیکه نشته، نه له نړدې او نه له لرې څخه.

خو دا نظریه چې ټولنه د اخلاقو سرچینه ده، دا یو ناشنا نظریه ده، ځکه چې د اخلاقو معنا؛ انسان د انسان په توګه منل دي، نه ټولنه د ټولنې په توګه.

سربیره پر دې، ټولنه د مادي له ورته اجزاو څخه ده، او له همدې امله د صفرونو ټولګه به یو ځل بیا یوازې یو صفر تولید کړي، نو څنګه ټولنه اخلاق تولیدولای شي پداسې حال کې چې د مادي نړی سره هیڅ تړاو نلري؟

بیا، که دا ریښتیا وي، او موږ اخلاق د ټولنې محصول وګڼو، نو نازي به د نورو په وژلو کې په حقه وي، ځکه چې  د ټولنې نظر و.

کله چې نړی د نازیانو د محاکمه کولو پریکړه وکړه، دا پریکړه د دې حقیقت پر بنسټ وه چې اخلاق مطلق دي نه د ټولنې محصول، که نه نو دوی به د نازیانو د محاکمه کولو توان نه و درلودلی، او نه به پوهیدل چې هغه له پیله غلطي کړې ده.

اخلاق له ټولنې جلا دي، نو حق؛ حق وي په ښه ټولنه او فاسده ټولنه کې.

---

[7] https://en.wikipedia.org/wiki/Aktion_T4

او خطا؛ خطا وي، په ښه ټولنه او فاسده ټولنه کې.

اخلاق یوه معنی لري چې د دماغ او ټولنې څخه اوړي.

۱۹- د زمکې په تمدن کې له یو څخه زیات معبودان شتون لري، نو ولې په ځانګړي توګه په الله ایمان تیکانه ده؟

ج: د زمکې په ټولو دینونو کې له الله پرته بل معبود نشته.

له نورو مذهبونو سره زموږ اختلاف دا دی چې دوی د الله سره کوچني معبودان نیولي دي لکه: یسوع او روح القدس په مسیحیت کې، او فشنو، او شیوا او برهما په هندویزم کې ... او داسې نور.

ټول دینونه په یو واحد الله باور لري؛ چې د دوی په نظر د موجوداتو خالق دی.

خو دوی د الله سره نور باطل معبودان جوړوي او زیات نه.

او حتی د مشرکانو بتان هم دوی د معبودانو په توګه نه ګڼل، دوی یوازې دا په پام کې نیولي چې الله خالق دی، مګر دوی یې دالله له پاره واسطه کول:.

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ۝٦١﴾ [العنكبوت: 61]

﴿ او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې آسمانونه او زمکه چا پیدا کړي دي او (چا) لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي؟ دوی به خامخا ضرور ووايي چې الله (پیدا کړي او مسخر کړي دي)، نو څرنګه دوی ګرځولی شي؟ [سورة العنکبوت]

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمایلي دي: "او څوک چې د بتانو د عبادت کوونکو په اړه فکر کوي چې دوی دا عقیده درلوده چې بتان نړۍ پیدا کوي یا باران وروي یا دا چې بوټي راشنه کوي او حیوانات یا نور څه پیدا کوي، نو دا انسان د دوی په اړه ناپوهه دی، بلکه بت پرستانو د خپلو بتانو په اړه داسې باور درلوده لکه مشرکان یې چې د قبرونو په اړه لري]٢. ]

ول ډیورنټ پدې باور دی چې د هندویزم بت پرستي په پای کې پر یو الله ایمان راوړلو ته ورګرځي، هغه د هندوانو د معبودانو په اړه وايي: "دا زرګونه باطل معبودان هغه څه دي لکه مسیحي کلیساګانې یې چې د زرګونو کشیشانو د تقدس او احترام په اړه کوي. د هندو ذهن د یوې شیبې لپاره هم دا فکر نه کوي چې دا بې شمېره معبودان د لوړ واک درلودونکي دي [8]".

په هغه راپور کې - چې په هند کې د انګریزانو د اشغال پر مهال برتانوي حکومت ته سپارل شوی و - راغلي و چې: " کمېټه له څېړنې وروسته دې عمومي پایلې ته ورسیده چې د هندوانو لوی اکثریت په یو پورته الله تینګ باور لري [9]".

---

8 قصة الحضارة، ول دیورانت، مجلد3 ص209.

9 مخکنۍ حواله.

الله د څمکې په ټولو دينونو کې يو دی:

﴿وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمْ وَاحِدٌ ۝٤٦﴾ [العنكبوت: 46]

{ او زمونږ معبود او ستاسو معبود يو دی ﴿٤٦﴾ .[سورة العنكبوت]

او دا بتان او هغه صالحين بنده ګان چې په الوهيت نيول شوي الله ته واسطه کول په خپلو حاجتونو کې بل څه ندي مګر کفري واسطې دي:.

﴿أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ ۚ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ ۝٣﴾

[الزمر: 3]

{ او هغه کسان چې له هغه نه غير يې دوستان (کارسازي) نيولي دي (وايي:) مونږ د دوی عبادت نه کوو مګر د دې لپاره چې دوی مونږ الله ته ښه نژدې کړي ﴿٣﴾ [سورة الزمر.].

که چيرته څوک يو څه وکړي چې اړتيا ورته نه لري، نو بې ځايه کار يې وکړ! او الله مونږ ته اړتيا نه لري نو ولې يې پيدا کړي يو؟

ځواب: هغه باور چې وايي: اړتيا د بې ځايه کار په وړاندې قرار لري، دا يو بې معنا باور دی!.

ځکه چې اړتيا د حکمت په وړاندې قرار لري نه د عبثيت په وړاندې.

نو یو بډایه او نیک شهرت لرونکی ډاکټر کیدی شي د ډیرو خلکو درملنه وکړي پرته لدې چې د کوم څه اړتیا ورته ولري، بلکه د همغوی د ښېګڼې لپاره یې درملنه کوي، نو مونږ. هیڅکله د هغه دې کړنې ته بې ځایه او عبث کار نه وایو!

نو حکمت او د یو کار تر شا لویه اراده د اړتیا او بې عقلۍ په دایره کې نه څرخیږي!

او که لامبو وهونکی د زړه خوږۍ له امله یو کوچنی وژغوري، نو آیا همداسې به یې هلته پریږدي پرته لدې چې د کوچني کورنۍ ترې مننه وکړي، نو د لامبو وهونکي دې کړنې ته د اړتیا او یا عبث کار په سترګه نه لیدل کیږي، بلکې دا یو سخاوتمندانه عمل، سپیڅلي اخلاق او د قدر وړ هدف دی!

نو د اړتیا او عبث(بې ځایه کړنو) تر منځ تلازم نشته[10] !

او په صحیح مسلم کې د قدسي حدیث په روایت؛ الله تعالی فرمایي:

ای زما بندګانو! که چېرته ستاسو مخکني او وروستني، انسانان او پیریان ستاسو څخه د یو تر ټولو پرهیزګاره انسان په زړه اوسي، دا به زما په پاچاهۍ کې هیڅ شی زیاد نه کړي، ای زما بندګانو! که چېرته ستاسو مخکني او وروستني، انسانان او پیریان ستاسو څخه د یو تر ټولو بد عمله انسان په زړه اوسي، دا به زما له پاچاهۍ څخه څه کم نه کړي، یقینا دا ستاسو کړنې دي چې زه یې تاسو ته شمېرم (لیکم او ثبتوم)

بیا یې تاسو ته بدله درکوم، نو چا چې ښېګڼه وموندله، د الله ستاینه دې وکړي او چاچې لدې پرته بل څه وموندل، نو یوازې خپل ځان دې ملامت وګڼي.

---

10 ظاهرة نقد الدين في الفلسفة الحديثة، د. سلطان العميري، رسالة دكتوراة.

الله د مخلوقاتو څخه غني دی (هيڅ اړتيا ورته نه لري).

او زمونږ هڅې، کوښښونه، او عملونه زمونږ د خپل ځان لپاره دي: .

﴿وَمَن جَٰهَدَ فَإِنَّمَا يُجَٰهِدُ لِنَفۡسِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦﴾ [العنكبوت: 6]

{ او هغه څوك چې جهاد كوي، نو يقينًا هم د خپل ځان لپاره جهاد كوي، بېشكه الله خامخا غني(ډېر بې پروا) دی، له عالمونو نه) ۶ [سورة العنكبوت.]

موږ پوهیږو چې الله په خپل ټولو مخلوقاتو کې حکمت لري، اګر که موږ له هغې څخه ناخبره یو، او د ډاکټر له حکمت څخه د ناروغ ناپوهي پدې معنی نه ده چې د ډاکټر پريکړې بې ځایه دي.

په الهي حکمت له پوهېدلو څخه د حکمت په ټولو ابعادو پوهېدل نه لازميږي، بلکې په ځينو يې پوهېدل بسنه کوي!

دا زموږ لپاره بسنه کوي پوه شو چې موږ د الله پر عبادت مکلف یو او د الهي حکمت په وجود پوه شو، دا په جمله توګه زمونږ لپاره بسنه کوي، که نه نو موږ به د هغه چا په څېر يو چې په هر هغه څه کافر کيږي چې پرې نه پوهيږي:

﴿بَلۡ كَذَّبُواْ بِمَا لَمۡ يُحِيطُواْ بِعِلۡمِهِۦ وَلَمَّا يَأۡتِهِمۡ تَأۡوِيلُهُۥۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ٣٩﴾ [يونس: 39]

{بلكې دوى د هغه (قرآن) تكذيب وكړ چې دوى د هغه د علم احاطه نه وه كړې، او دوى ته لا د ده حقيقت نه و راغلى،} د ﴿٣٩﴾. [سورة يونس].

الله پاک حکمت والا ذات دی او موږ يې د حکمت له مخې پيدا کړي يو.

يوازې الله هغه ذات دی چې د عبادت وړ دی.

نو يوازې الله د عبادت وړ دی، ځکه ( الله) هغه ذات دی چې موږ يې له نش څخه پيدا کړي يو، الله پاک فرمايي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ٢١﴾

[البقرة: 21]

{ اى خلكو ! د خپل رب عبادت كوئ، هغه چې تاسو يې پيدا كړي ياست او هغه كسان چې له تاسو نه مخكې وو، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ[ سورة البقرة].

او (الله) هغه ذات دی چې موږ ته يې لارښوونه کړې، او (الله) هغه ذات دی چې شريعت(قانون) يې جاري کړی، هر څه يې اندازه کړي، امر کوونکي او منع کوونکی دی: .

﴿ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ ٥٤ ﴾ [الأعراف: 54]

{ خبر شئ! خاص هغه لره دي پيدا كول او حكم كول} [سورة الأعراف..].

الله یوازې پیدا کول نه کوي، بلکې هغه حکم فرما هم دی او موږ د هغه پاک ذات امر پر ځای کوو.

عبادت په خپلو بندګانو د الله حق دی، ځکه هغه پاک ذات دی چې موږ یې پیدا کړي یو او مونږ ته یې ژوند راکړی، په وخت یې موږ ته روزي راکړې، موږ ته یې لارښوونه کړې، او خپل پیغمبران یې مونږ ته رالیږلي ترڅو مو و ازمايي چې څوک زمونږ څخه په عمل کې غوره دی. نو عبادت پر مونږ د الله حق دی:.

﴿ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْمَوْتَ وَٱلْحَيَوٰةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفُورُ ۝٢﴾ [الملك: 2]

{ هغه ذات چې مرګ او ژوند يې پيدا كړی دی، د دې لپاره چې تاسو وازمايي چې په تاسو كې د عمل په لحاظ كوم يو ډېر ښه دى او هم دى ښه غالب، ډېر بخښونکی دی [ .سورة الملک.].

او زموږ ژوند او آخرت له عبادت پرته نه سمیږي او له هغه پرته زموږ اخلاق نه سمیږي، عبادت د بې حیایی او فحشا مخه نیسي او په دې سره د خلکو دنیا اصلاح کیږي، زمونږ رب العالمین فرمايي:

﴿ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ ۖ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ ۗ ۝٤٥﴾ [العنكبوت: 45]

{او لمونځ قايموه، بې‌شکه لمونځ (لمونځ کوونکي لره) له بې حياۍ او بدکار نه منع کوي

[سورة العنكبوت.]

او موږ له عبادت پرته جنت نشو ګټلای، ځکه دا په آخرت کې نجات او د دنيا نعمت دی.

عبادت زموږ لپاره او زموږ د خير لپاره دی او دا د الله تعالی په وړاندې پر موږ فرض دی ځکه چې هغه زموږ خالق دی او ګټه يې يوازې موږ ته راګرځي او نيمګړتيا يې هم يوازې مونږ ته راګرځي.

جنت قيمتي دی، نو څوک چې جنت غواړي د هغې لپاره کار کوي، موږ هغه پاک ذات ته محتاج يو، او هغه زمونږ او له ټولو مخلوقاتو څخه مستغني دی.

۲۱ـ الله څنګه وپيژنو؟

ج: موږ الله په ډېرو زياتو طريقو پېژندلای شو، خو دلته به څلور لارې ذکر کړو:

لومړۍ طريقه: موږ د سالم فطرت له لارې الله تعالی پيژنو.

انسان په خپل فطرت سره پوهيږي چې هغه يو خالق لري، نو ته په خپل فطرت سره پوهيږې چې يو خالق لرې چې ته يې په دې شکل، دې اعضاوو، دې تخليق، او دې حيرانوونکي جوړښت او هنر سره پيدا کړی يې.

همدارنګه انسان په خپل فطرت سره پوهيږي چې دی په عبادت سره خپل خالق ته په رجوع کولو مکلف دی، او په خپل فطرت سره پدې هم پوهيږي چې بې وزله دی او خپل

خالق ته په هر وخت کې محتاج دی، او الله تعالی ته د احتیاج احساس د مصیبت پر مهال زیاتیږي.

د الله تعالی د پېژندنې فطرت هغه دی چې ټول انسانان پرې پیدا شوي، الله تعالی فرمایي:

﴿فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ۝٣٠﴾ [الروم: 30]

{. نو ته خپل مخ دین ته نېغ (او برابر) وساته، پداسې حال کې چې حق ته مایل اوسې، (تاسو لازم ونیسئ) د الله هغه فطرت لره چې په هغه یې خلک پیدا کړي دي، د الله تخلیق لره هېڅ بدلون نشته، همدغه سم(نېغ) دین دی، خو د خلکو اکثریت نه پوهېږي [سورة الروم].

او الله پاک فرمایي:

﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِىٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ۖ قَالُوا۟ بَلَىٰ شَهِدْنَآ ۛ أَن تَقُولُوا۟ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَٰذَا غَٰفِلِينَ ۝١٧٢﴾ [الأعراف: 172]

{ او کله چې ستا رب د ادم له اولادې نه د هغو له شاګانو نه د هغوی اولاد راواخیست او دوی یې په خپلو ځانونو باندې ګواه جوړ کړل، (او ورته وې ویل:) آیا زه ستاسو رب نه یم؟ دوی وویل: ولې نه! مونږ (د دې) ګواهي کوو، (دا د دې لپاره) چې تاسو د قیامت په ورځ و (نه) وایئ چې بېشکه مونږ له دې نه غافله وو [سورة الأعراف].

نو وړاندې لدې چې پیدا شو، د الله پیژندنه مو په فطرت کې وه، او الله پاک ته بندګي کول مو په فطرت کې و.

(وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَىٰ شَهِدْنَا). او دوی یې په خپلو ځانونو باندې ګواه جوړ کړل، (او ورته ویې ویل): آیا زه ستاسو رب نه یم؟ دوی وویل: ولې نه! مونږ (د دې) ګواهي کوو.

او نبي صلی الله علیه وسلم په متفق علیه حدیث کې فرمایلي دي:

هیڅ یو ماشوم داسې نشته چې په فطرت باندې نه وي زیږیدلی] ٧. ]

مونږ ټول پر همدې فطرت سره پیدا کیږو، او دا فطرت د هر هغه چا لپاره کافي دی چې حق غواړي او پر حق باندې استدلال وکړي او حق ته تسلیم شي کله چې ورته ښکاره شي.

او لدې فطرت څخه هیڅوک انکار نشي کولای حتی تر ټولو سخت کافر، په ځانګړي توګه په سختو وختونو کې. ځکه ټول خلک د سختیو پر مهال الله ته رجوع کوي او هغه څه هیروي چې دوی یې شریکوي:.

﴿وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِي ٱلْبَحْرِ ضَلَّ مَن تَدْعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُۖ فَلَمَّا نَجَّىٰكُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ أَعْرَضْتُمْۚ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ كَفُورًا ٦٧﴾ [الإسراء: 67]

{ او کله چې تاسو ته په سمندر کې سختي دروررسېږي (، نو) هغه څوك (ستاسو له فکره) ورك شي چې تاسو يې بلئ مګر يوازې هغه (الله رابلئ)، نو کله چې تاسو وچې ته وژغوري (،نو) تاسو (له توحيده) مخ اړوئ او انسان ډېر ناشکره دی [سورة الإسراء.].

کله چې يو څوک په سخت مصيبت کې وي او د بربادۍ احساس وکړي، هغه به يوازې يو الله ته بلنه ورکړي او خپل ټول شرکونه به هير کړي؛ او د سختيو پر مهال په دعا کې الله ته دا اخلاص د سالم فطرت لخوا هڅوونه ده؛ کوم په هر انسان کې دننه شتون لري.

يو له امريکايي ولسمشرانو څخه – آيزن هوور – چې په دويمه نړيواله جګړه کې د امريکايي ځواکونو قوماندان وو، ورروسته لدې چې د لوی خطر په وخت کې پوځونه بيرته فطرت ته څنګه ورستنيږي وايي: "په خندقونو کې هيڅ ملحد شتون نلري [11]".

د جنګ پر مهال په خندق کې له الله څخه منکر نشته، ټول الله ته ورګرځي، دا د فطرت هغه حقيقت دی چې ټول انسانان پرې د سختيو پر مهال اعتراف کوي) .۱(

د الله د پيژندلو دويمه لار عقل دی: نو مونږ الله په عقل سره پيژنو.

الله تعالی فرمايي:

﴿أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ ٣٥﴾ [الطور: 35]

{ آيا دوی بې له څه شي پيدا شوي دي، يا هم دوی، پخپله پيدا کوونکي دي؟ [سورة الطور.].

[11] https://en.wikipedia.org/wiki/There_are_no_atheists_in_foxholes

په عقل کې درې امکانات شتون لري چې څلورم نه لري:

لومړی: دا چې موږ پرته له خالق څخه پیدا شوي یو (أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ) (یا پرته له کوم شی څخه پیدا شوي دي)

او دا ناشونې ده، ځکه چې موږ څنګه پرته له خالق څخه پیدا کېدلی شو؟

دويم: دا چې موږ خپل ځانونه پیدا کړي دي (أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ) (یا دوی خالق-پیدا کوونکي- دي)

او دا هم ناشونې ده، ځکه څنګه زه خپل ځان پیدا کولی شم وړاندې لدې چې پیدا کړی شم؟

نو په ذهن (عقل) کې دریم احتمال پاتې کیږي، کوم چې آیت ورڅخه چپ پاتې شوی دی، ځکه چې بدیهي (احتمال)

دی، هغه دا چې مونږ یو خالق لرو چې مونږ یې پیدا کړي یو.

نو مونږ الله په عقل سره پیژنو.

د الله د پیژندلو دریمه لار، د الله په مخلوقاتو کې نظر اچول دي:

د الله په مخلوق کې نظر اچول زمونږ مخې ته د الله لوی عظمت ودروي: .

﴿قُلِ ٱنظُرُواْ مَاذَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ ١٠١﴾ [یونس: 101]

{ ته (ورته) ووايه: تاسو وګورئ په آسمانونو اوځمکه کې څه (څه دليلونه) دي او هغه قوم ته له آيتونو او وېروونکو څخه فايده نه رسي چې ايمان نه راوړي [سورة يونس.]

هرڅومره چې موږ د الله زيرک پيدايښت او حيرانوونکي مهارت ته وګورو هومره مو د الله پيژندنه زياتيږي.

دا هغه څه دي چې موږ وړاندې د پيدا کولو په دليل، د پاملرنې په دليل او د مهارت په دليل کې ورڅخه يادونه وکړه.

د الله تعالی د پيژندلو څلورمه طريقه د رسولانو له لارې ده:

او دا د الله تعالی د پيژندلو ترټولو لويه لاره ده هغه دا چې الله تعالی

د هغه د رسولانو اوانبياوو له لارې وپيژنو، پيغمبرانو د الله په اړه خبر ورکړی، او د هغه له صفتونو او ذات څخه يې هم خلک خبر کړي دي، نو د انبياوو له لارې مونږ الله تعالی په نومونو او صفتونو سره وپيژانده، او پدې پوه شو چې څنګه د الله عبادت وکړو او څنګه ورته ځان نږدې کړو، او پدې هم پوه شو چې څرنګه د الله له عذاب څخه د حساب په ورځ ژغورل کېدلی شو، نو رسولانو خلک د الله عبادت ته راوبلل، يا په بل عبارت: دوی خلکو ته بلنه ورکړه چې بيرته خپل فطرت ته وروګرځي، هغه چې دوی پرې پيدا شوي دي، او په هغه بڼه د الله عبادت وکړي لکه څرنګه يې چې امر کړی.

پيغمبرانو خلکو ته د حق او خلاصون لور ته لارښوونه وکړه:.

﴿رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ١٦٥﴾ [النساء: 165]

{ او (مونږ لېږلي وو) رسولان، چې زيري ورکوونکي او وېرووونکي وو، د دې لپاره چې د خلقو لپاره په الله باندې څه حجت پاتې نشي او الله له ازله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی [سورة النساء.]

د دغو پيغمبرانو او رسولانو لخوا د الله په اړه معلومات ورکول او د الله په معجزو سره د دوی ملاتړ کول د قيامت په ورځ د الله پر وړاندې د هيچا دليل نه جوړوي.

الله تعالی تاسو ته هغه فطرت درکړی چې تاسو پرې خپل خالق پيژنئ، تاسو ته يې عقل درکړی او تاسو ته يې د هغه په مخلوقاتو کې د نظر اچولو توان درکړی، او تاسو ته يې پيغمبران راليږلي دي، نو ستاسو لپاره د الله په وړاندې هيڅ دليل او بهانه نه پاتې کيږي.

۲۲- دينونه خو ډېر دي، نو اسلام ولې؟

ج: اسلام د دينونو تر منځ يو دين نه دی.

اسلام په عقيده کې د زاړه عهد د ټولو پيغمبرانو عقيده مني.

اسلام د هغو مذهبونو د تګلارې سمون دی چې منحرف شوي دي، او د زړې عهد نامې د پيغمبرانو د توحيدي عقيدې بيا راګرځول دي.

الله تعالی فرمايي:

﴿۞ شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ كَبُرَ عَلَى ٱلۡمُشۡرِكِينَ مَا تَدۡعُوهُمۡ إِلَيۡهِۚ ٱللَّهُ يَجۡتَبِيٓ إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ ١٣﴾ [الشورى: 13]

} هغه تاسو لپاره هغه دين مقرر کړی دی چې د هغه وصيت يې نوح ته کړی و او هغه چې مونږ تا ته وحي کړی دی او هغه چې مونږ د هغه وصيت ابراهيم او موسٰی او عيسٰی ته کړی و، چې تاسو دين قايم کړئ او اختلاف پکې مه کوئ، په مشرکانو باندې هغه شی ډېر دروند دی چې ته دوی هغه ته بلې، الله غوره کوي دې (دين) ته چا ته چې وغواړي او د ده په طرف هغه چا ته هدايت کوي چې رجوع کوي“ .[سورة الشورى].

نو اسلام د نورو دينونو په څېر يو دين ندی، بلکې د ټولو دينونو اصل دی.

۲۳- اسلام څه شی دی؟

ج: اسلام: الله تعالی ته تسليمېدل، غاړه ايښودل او تابعداري کول دي.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَنۡ أَحۡسَنُ دِينٗا مِّمَّنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ وَٱتَّبَعَ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۗ وَٱتَّخَذَ ٱللَّهُ إِبۡرَٰهِيمَ خَلِيلٗا ١٢٥﴾ [النساء: 125]

{ او د دين په لحاظ له هغه كس نه څوك زيات ښه دى، چې خپل مخ يې الله ته تابع كړ او هغه نېكي كوونكى و او د ابراهيم–عليه السلام– د ملت تابع شو، چې يوازې په حق پسې تلونكى و، او الله ابراهيم–عليه السلام– لره خليل نيولى دى .[سورة النساء.]

او د أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّـهِ معنا: يعني الله ته تسليم شو او د هغه ذات تابع شو؛ لوړ او د تقدس وړ دى رب زمونږ،او دا په خلكو كې تر ټولو غوره ديندار دى.

او الله تعالى فرمايي:

﴿ فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ فَلَهُۥٓ أَسْلِمُوا۟ۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُخْبِتِينَ﴿٣٤﴾﴾ [الحج: 34]

{ نو ستاسو حق معبود يو معبود دى، نو تاسو خاص هغه ته غاړه كېږدئ او عاجزي كوونكو ته زيرى وركړه[سورة الحج].

او د ( فَلَهُ أَسْلِمُوا) معنا دا ده چې : د هغه حكم ته تسليم شول.

له دې آيتونو څخه دا څرګندېږي چې د اسلام مفهوم د الله تعالى په وړاندې مطلق تسليمېدل دي، او د هغه جل جلاله تابع كېدل دي، او په خوښۍ او منلو سره د هغه د شريعت حكمونه پر ځان تطبيقول، او دا د اسلام اصل او حقيقت دى.

اسلام؛ الله تعالى ته د هغه په پريكړو او قوانينو كې تسليمېدل دي.

اسلام ټول بشريت ته د الله تعالى دين دى، الله تعالى فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ ١٩﴾ [آل عمران: 19]

{ بې‌شکه (معتبر) دين د الله په نيز اسلام دی .[سورة آل عمران.]

اسلام هغه دين دی چې الله تعالی له هغه پرته بل دين نه مني..

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٨٥﴾ [آل عمران: 85]

{ او څوک چې له اسلام نه غیر (بل) دين غواړي، نو هيڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په اخرت کې له تاوانيانو څخه دی..[ سورة آل عمران]

اسلام هغه دين دی چې الله تعالی پرې ټول انبياء او رسولان راليږلي دي، د انبياوو دين يو دی او هغه اسلام دی او ټول انبياء عليهم السلام په توحيد سره راغلي دي، که څه هم د هغوی شريعتونه سره توپير لري.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ٢٥﴾ [الأنبياء: 25]

{ او مونږ له تا نه مخکې هيڅ رسول ندی لیږلی مګر چې هغه ته به مونږ(دا) وحي کوله چې بې‌شکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هيڅ حق معبود نشته، نو تاسو زما عبادت کوئ .[ سورة الأنبياء.].

پر دې توحيد له اسلام پرته بل هيڅ دين پاتې ندی.

اسلام نن ورځ په ځمکه کې يوازينی توحيدی دين دی.

په داسې حال کې چې له نورو شريعتونو سره تړلي ټول شرک لري، لږ يا ډير، د انبياوو له وفات نه وروسته او له هغه وروسته چې خلک يې په توحيد باندې پرېښودل، خلکو د وخت په تېرېدو سره شرک وکړ او نن ورځ له خالص توحيد څخه هيڅ ندي پاتې چې اسلام پرې راتګ کړی؛ پرته له اسلام څخه.

۲۴- آيا په اسلام کې هغو پوښتنو ته ځواب شته چې ذهنونه يې په ځواب کې مشوش او بې ځوابه دي: موږ له کومه ځايه راغلي يو؟ موږ ولې دلته په دې نړۍ کې يو؟ او برخليک چيرته دی؟

ج: اسلام دې ټولو پوښتنو ته د قرانکريم په يو آيت کې ځواب ورکړی، زموږ پاک پروردګار فرمايلي دي:

﴿وَمَالِيَ لَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ٢٢﴾ [يس: 22]

{ او په ما څه شوي دي (څه مانع دی) چې زه به د هغه ذات عبادت نه کوم چې زه يې پيدا کړی يم او خاص هغه ته به تاسو بېرته بېول کېږئ [سورة يس].

ته له کومه راغلی يې؟ الله پيدا کړی يم (الَّذِي فَطَرَنِي). هغه ذات چې زه يې پيدا کړی يم.

او زه چیرته تلونکی یم؟ زه به الله ته ورځم چې د کړنو حساب راسره وکړی شي (وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ).او هغه ذات چې هغه ته به بیرته ستانه شئ.

ولې دې نړی ته راغلې؟ د الله د عبادت لپاره او د دې لپاره چې و ازمایل شم.

ولې د الله عبادت کوم؟ طبیعي خبره ده چې زه د هغه الله عبادت وکړم چې زه یې پیدا کړی یم، ځکه د بنده او د هغه د رب تر منځ د اړیکو طبیعت همدا دی... چې بنده د خپل رب او خالق عبادت وکړي.

(وَمَا لِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي). او په ما څه شوي دي (څه مانع دی) چې زه به د هغه ذات عبادت نه کوم چې زه یې پیدا کړی یم.

په یو آیت کې د دریو مهمو پوښتنو ځوابونه راټول شوي چې انسان ورته حیرانیږي:

﴿وَمَالِيَ لَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ٢٢﴾ [يس: 22]

{ او په ما څه شوي دي (څه مانع دی) چې زه به د هغه ذات عبادت نه کوم چې زه يې پیدا کړی یم). ۲۲ [سورة يس.].

۲۵- ته څنګه پوه شوې چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله لخوا رسول دی؟

ج: د اعجازي دلایلو ډیروالی د معنوي تواتر او بشپړ یقین څرګندونه کوي.

ارسطو په خپلو ټولو (عملي) کړنو سره فیلسوف دی، نه د یوې جملې او یا یو فلسفي تحلیل سره.

ابو قراط د هغه په ټولو طبي پروژو سره یو ډاکټر دی، نه په یو عملیات سره چې تر سره کړی یې دی.

په همدې ډول د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د معجزې په اړه د ثبوتونو کثرت د اخلاقي تسلسل او بشپړ یقین څرګندونه کوي چې هغه پیغمبر دی.

که د هغه صلى الله عليه وسلم ژوند لیک ته وګورې او ومومې چې هغه ربنتونی دی او د ډېرو دښمنو خلکو په اقرار یې په ربنتینولۍ مشهور و او هېڅکله په دروغو او بې حیایۍ سره یاد شوی ندی بیا هغه له غیبو څخه خبر ورکوي او - څه چې وایې - همغسي کیږي لکه، هغه څوک چې د پیغمبرانو د هغه د راتګ وړاندوینه کړې وه صلى الله عليه وسلم، د هغه له راتګ څخه سلونه کاله مخکې. دا ټول د هغه د صحیح رسالت معنوی تواتر او مکمل یقین باندی دلالت کوی.

بیا د هغه تر ټولو لوی معجزی به څنګه وي چې هغه راوړی دی، چې هغه قرآن کریم دی ؟

هغه قرآن چې الله پرې د بیان، فصاحت او بلاغت خلک ننګولې دي تر څو د هغه په شان او یا له هغه څخه یو سورت راوړي، نو هغوی داسې ونه کړی شول.

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ وَلَن تَفۡعَلُواْ ﴾ [البقرة: 24]

{ تاسو (دا کار) ونه کړ او کله به يې هم ونه کړی شئ، [سورة البقرة.].

نه یې وکړ او نه یې د کولو توان درلوده.

قرآن کريم اوس هم د مشرکانو او فصيحه خلکو ويناوې ننګوي او په دې ټولو کې دوی د هغه مخالفت کولو ته زړه نازړه دي او پرتله کولو ته زړه نه ښه کوي.

ډاکټر عبدالله دراز رحمه الله وايي: آيا رسول الله صلی الله عليه وسلم له دې ويره نه درلوده چې دا ننګونه به د دوی ادبی ليوالتيا راوپاروي؟

نو دوی د هغه سيالی ته له ويرې سره راوړاندې شول، حال دا چې دوی ټول محتاط وو؛ او هغه به څه کړی وی که له دوی څخه د فصحاوو يوې ډلې ترون کړی و تر څو يې داسې يوه وينا جوړه کړې وه چې په ځينو برخو کې د قرآن سره ورته والی ولري!

بيا که هغه دې ته زړه ښه کړی و چې د خپل وخت په خلکو باندې دا حکم صادر کړي نو په راتلونکو نسلونو به يې څنګه صادروي؟

دا هغه جرات دی چې که يو سړی د خپل ځان په قدر پوه شي نو هيڅکله به وروړاندې نه شي تر څو يې د قضايی لګښتونو لاس ډک او اسماني خبرونو ډاډمن نه وي، او بيا يې پدې توګه د نړی مخې د وروستي قضاوت په ښه وړاندې کړي،او چې هرڅوک يې مخالفت وکړي په ښکاره توګه بې کفايته او ښکاره ناکام دی، دا (ننګوونه)

د وخت په اوږدو کې په هر عصر کې همداسې پاتې شي [12].

دغو مشرکانو وليدل چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د جګړې لپاره د لښکرو جوړول او د ګوندونو راغونډول د قرآن سره له مخالفت او نه منلو څخه آسان کار دی لدې چې د قرآن مخالفت وکړي او ننګونه يې ومني، دا د دوی تر ټولو ستره هڅه وه:.

[12] النبأ العظيم، د. عبد الله دراز رحمه الله، 44-45. مخ

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَسۡمَعُواْ لِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَٱلۡغَوۡاْ فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَغۡلِبُونَ٢٦﴾ [فصلت: 26]

{ او کافران شوي کسان وايي : تاسو دغه قرآن ته غوږ مه ږدئ او په (تلاوت د) ده کې شور ماشور اچوئ، ښايي چې تاسو غالبه شئ [سورة فصلت].

ټول عربان او هغه ملتونه چې ننګونه ورته رسېدلې وه و نه توانېدل داسې څه راوړي چې ملحدين او نورو ته تسليت راحت بخښونکی شي.

الوسي رحمه الله فرمايي: تر نن ورځې پورې لدوی نه هيڅ يوه خپلې شوندې په داسې يو صفت او يا موصوف سره و نه خوځولې چې ( د قرآن په څېر او يا له هغه څخه يو څه وي).

جبير بن مطعم چې لا مسلمان شوی نه و وايي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چې په ماښام کې به يې د الطور سورت لوسته، او کله چې دې آيت ته ورسېد::

﴿أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ٣٥ أَمۡ خَلَقُواْ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ٣٦ أَمۡ عِندَهُمۡ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمۡ هُمُ ٱلۡمُصَيۡطِرُونَ٣٧﴾ [الطور: 35_37]

[ آیا دوی بې له څه شي پیدا کړی شوي دي، یا هم دوی، پخپله پیدا کوونکي دي؟
﴿٣٦﴾ آیا دوی آسمانونه او ځمکه پیدا کړي دي؟ بل: د اضراب د پاره دی:دوی اسمانونه او
ځمکه نه دي پیدا کړي، دوی یقین نه کوي. ﴿٣٧﴾ آیا له دوی سره ستا د رب خزانې دي، یا
هم دوی واکداران دي [سورة الطور]

و یې ویل: نږدې و چې زړه مې والوځي ."[13]

نو په قرانکریم کې داسې حیرانوونکي رازونه شته چې د بشریت روح ته رسیږي.

وګورئ چې څنګه به د مشرکانو ښځې د زیاتې لیوالتیا او تاثیر له امله د ابوبکر د کور خواوشا د قرآن کریم د تلاوت پر مهال راټولېدلې، تر دې چې د قریشو د سړیو سره یې اندیښنه پیدا کړه او وویریدل.

له همدې امله د عربو استازو موافقه وکړه چې قرآن دې نه خپله اوري او نه دې خپلې کورنۍ اوریدلو ته پرېږدي، ځکه په کفر د پاتې کېدو یوازنۍ لار ده.

د قرآن کریم له عجایبو څخه چې نه خلاصیدونکي دي هغه څه دي چې ډاکټر عبدالله دراز رحمه الله په مختلفو وختونو کې د قرآن کریم د آیتونو د نزول په اړه ذکر کړي دي، بیا یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لخوا د سورتونو په منځونو کې په ځانګړو ځایونو کې د ځینو آیتونو اېښودلو او په نورو سورتونو کې د یو لړ نورو آیتونو ځای پر ځای کولو ته اشاره کړې ده وایې، بیا یې په اخر کې هر یو سورت د یو ځانګړې ساختمان په څېر ښکاري، پر هغه دې الله ورحمیږي بیا وایې: د قرآن د نزول پر مهال په قرآن کې ځینې

[13] صحیح البخاري، ح: 4854.

موضوعات له نورو موضوعاتو څخه په جلاوالي کې زياتېدل او په تدريجي ډول يې د نورو آيتونو له نازلېدو وروسته خپلواک واحدونه جوړ کړل او ځينې نور آيتونه يو له بل سره تداخل لري، دا هر څه به د رسول الله صلی الله عليه وسلم د امر سره سم تر سره کېدل او هغه به په خپل نوبت له جبريل عليه السلام څخه لارښوونې اخستې.

که موږ بې شميره تاريخونه په پام کې ونيسو - د قرآن کريم د آيتونو د نزول نيټې - نو وبه ګورو چې دې وحي په عمومي توګه په ځانګړو شرايطو او فرصتونو پورې تړاو درلوده، دا موږ دې ته هم اړ باسي تر څو د هغې نښې په اړه پوښتنه وکړو چې هر سورت پکې د يوې ځانګړې پروسې او خپلواک واحد په توګه تنظيم شوی دی.

لکه قرآن چې د يوې پخوانۍ لرغونې ودانۍ شمېرل شوې ټوټې وې، چې د پخوا په څېر په يو بل ځای کې يې د بيارغونې اراده شتون ولري، که نه نو څنګه کيدی شي د سملاسي او منظم ترتيب په اړه يې وضاحت ورکړل شي، په هغه برخه کې چې د ډيری سورتونو پورې اړه لري.

مګر د راتلونکو پيښو په وړاندې د داسې پلان جوړولو پر مهال انسان څه ډول تاريخي تضمين، د هغه قانوني غوښتنې، او مطلوب حلونه ترلاسه کولی شي؟ برسېره پر دې چې دا حلونه په کوم ژبني شکل کې وړاندې شي او د دې سورت پر ځای د بل سره اسلوبي مطابقت ولری؟

آيا موږ دې پايلې ته نه رسيږو چې د دې پلان بشپړيدل او په مطلوب ډول يې پلي کول د لوی خالق مداخلې ته اړتيا لري هغه ذات چې د دې مطلوبې همغږۍ د رامينځته کولو لپاره پوه ځواک لري [۱۲]؟

قرآن د هغه - صلی الله عليه وسلم - د نبوت د ريښتينولی يوه خپلواکه معجزه ده.

او د هغه - صلی الله علیه وسلم معجزې چې په لاس یې ښکاره شوي ډیری دي ، آن له زرو اوړي ، او لږ وخت پرې تېر شوی، او چا یې چې په اړه مونږ ته - معلومات - رانقل کړي دي ترټولو ریښتیني او غوره خلک دي.

او دغه راویانو چې مونږ ته یې دا معجزې رانقل کړي دي په ډیرو وړو مسئلو کې درواغو ته جواز نه ورکوي، نو څنګه به پر هغه دروغ ووايي، او هغوی پدې پوهېږي چې چا په قصدي توګه پر هغه درواغ وویل نو هغه دې په اور کې د ځان لپاره ځای ناستی وټاکي .لکه څرنګه چې هغه - صلی الله علیه وسلم - پدې اړه خبرداری ورکړی دی.

د هغه - صلی الله علیه وسلم - ځینې معجزې، په زرګونو صحابه کرامو لېدلي، او ځینې نورې یې په لسګونو - صحابه کرامو - روایت کړي دي، نو دوی څنګه په دې ټولو کې په دروغ ویلو سره توافق کولی شي؟

د هغه د معجزو یوه بیلګه چې د خلکو د یو لوی ټولګي په حضور کې لېدل شوې: د خرما د تنې مشهور او متواتر حدیث دی چیرته به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم

د هغه د پاسه خطبه ویله، کله چې ممبر ورته جوړ کړای شو او پرې وخوت او په خطبې ویلو یې پیل وکړ، نو د خرما تنې لکه د ماشوم په څېر ژړا پیل کړه، تر هغه یې ژړا او فریاد کاوه تر دې چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم خپل سینې ته راجوخته کړه او چپ شوه.

دا حدیث له صحابه کرامو څخه: أنس بن مالک، جابر بن عبد الله، عبد الله بن عباس، عبد الله بن عمر، أبی بن کعب، أبو سعید، سهل به سعد، عائشة بنت أبی بکر او أم سلمې رضي الله عنهم اجمین روایت کړی دی.

نو آیا امکان لري چې د صحابه کرامو دا - لوی - شمېر دي سره پدې روایت کې په دروغ ویلو توافق وکړي.؟

لکه ځینې معجزې یې د زرګونو صحابه کرامو په حضور کې لیدل شوي دي لکه: د مبارکو ګوتو له منځونو څخه یې د اوبو راخوټېدل، تر دې چې اودس یې ترې وکړ، او یو زر او پنځه سوه صحابه کرامو وڅښلې، دا حدیث متواتر دی او بخاری او مسلم روایت کړی دی.

د لویو لښکرو د خوراک لپاره د لږ مقدار خوراک زیاتېدل او دا خبره هم له صحابه کرامو څخه په تواتر سره را نقل شوېده، او یواځې بخاري د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارک لاس د خوراک د زیاتوالي معجزې په خپل صحیح کې په پنځو ځایونو کې ذکر کړي دي] ۱۳.[

کله چې د ریښتینولی دلیلونه ثابت وي او د هغه - صلی الله علیه وسلم - په نبوت دلالت کوونکې معجزې ډېرې وي، نو یو عاقل سړی څنګه د دې ټولو څخه انکار کولی شي؟

دا د هغه - صلی الله علیه وسلم - د معجزو یو څو نورې وړې بیلګې دي:

رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه شپه خبرداری ورکړ چې سخت باد به راوالوځي او خلک یې د خپلو ځایونو څخه له ولاړېدو منع کړل، نو یو سړی پاڅېده او باد پورته کړ تر دې چې له خپل ځای څخه یې لرې په یو ځای کې وغورځاوه [14].

[14] صحیح مسلم، : 3319. شمېره حدیث.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم د نجاشي د مرګ په ورځ د هغه له مړيني څخه خبر ورکړ، او -د جنازې- څلور تکبیرونه یې پرې وویل] .۱۵. [

او رسول الله صلی الله علیه وسلم د عمر، عثمان، علي، طلحه او الزبیر رضي الله عنهم له شهادت څخه خبر ورکړ، او دا چې هغوی به لکه د نورو خلکو په خپلو بسترو کې نه مري.

رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ له ابوبکر، عمر، عثمان، علي، طلحه او الزبیر سره یو ځای غره ته وخوت، نو یوه ډبره وخوځېده، رسول الله صلی الله علیه وسلم غره ته په خطاب کې وویل: آرام شه، ستا د پاسه: له پیغمبر، او ریښتوني او شهید پرته بل څوک نشته.

نو هغه د خپل ځان لپاره په نبوت فیصله وکړه، او ابوبکر ته یې په ریښتینولۍ او د پاتې نورو په اړه یې وویل چې دوی به له شهیدانو څخه وي، او هغه څه چې هغه - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي و، همغسې وشول.

150حدیثونه داسې شته چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل رب نه دعا غوښتې ده او سمدستي یې الله د خلکو په حضور کې دعا قبوله کړې ده ![15]

او کله چې د مکې خلکو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وغوښتل چې دوی ته یوه نښه وښیي، نو سپوږمۍ یې دوه برخې وروښودله، تر دې چې دوی یې په منځ کې حرا ولید، دا حدیث متواتر دی. یعنې د اعتبار په لوړه درجه کې دی.

[15] دا حدیثونه سعید بن عبدالقادر بشنفر په خپل کتاب؛ دلائل النبوة کې راټول کړي او دا کتاب د دار ابن حزم له چاپ خونې څخه دی.

رسول الله -صلی الله علیه وسلم- به په لویو غونډو لکه: جمعه، او اخترونو کې د القمر سورت تلاوت کاوه تر څو خلکو ته د هغو معجزو په اړه ور واوروي چې پدې سورت کې دي، او د خپل نبوت په رېښتینولۍ به یې پرې استدلال کاوه.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ادم -علیه السلام- له ژوندیو مخلوقاتو وروستی دی: «او آدم علیه السلام د جمعې په ورځ د ماځیګر له لمانځه وروسته د مخلوقاتو په اخیر کې پیدا شو] «۱۸.[

او دا علمي حقیقت اوس ثابت شوی دی، ځکه نو هغه صلی الله علیه وسلم څنګه پوه شو چې آدم علیه السلام په ځمکه کې د نباتاتو او حیواناتو له ظهور وروسته وروستی مخلوق و؟

او د الله تعالی دې وینا ته وګورئ:

﴿وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيْنِۖ فَمَحَوْنَآ ءَايَةَ ٱلَّيْلِ وَجَعَلْنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبْصِرَةً ﴿١٢﴾﴾ [الإسراء: 12]

} او مونږ شپه او ورځ دوه نښې جوړې کړي دي، بیا مونږ د شپې نښه تته وګرځوله او د ورځې نښه مو روښانه وګرځوله، د دې لپاره چې تاسو د خپل رب فضل طلب کړئ او د دې لپاره چې تاسو د کلونو شمېر او حساب وپېژنئ او هر شی، مونږ هغه ښه په تفصیل سره بیان کړی دی [سورة الاسراء.].

فَمَحَوْنَا آيَةَ اللَّيْلِ: یعني سپوږمۍ چې د شپې نښه ده- په لومړي سر کې- ځلېدونکي وه، بیا یې رڼا لرې کړی شوه.

دا هغه څه دي چې صحابه کرامو پرې مبارک آیت تفسیر کړی، امام ابن کثیر په خپل تفسیر کې له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی چې وایي: سپوږمۍ به لکه د لمر په څېر ځلیدله، -حال دا چې - د شپې نخښه وه، نو - روښنایي- یې له منځه یوړل شوه".

د حیرانتیا خبره خو دا ده چې نن ساینس دې پایلې ته رسیدلی، ناسا په خپله رسمي ویب پاڼه او رسمي چینل کې خپاره کړي دي: د سپوږمۍ د ژوند لومړۍ دوره، کله چې روښانه او ځلیدونکې وه.

په تواتر سره د نخښو ښکاره کېدل، له غیبو خبر ورکول، او د یو سړي په لاس - صلی الله علیه وسلم - د ځمکې او آسمانونو له بې شمیره دقیقو رازونو څخه خبر ورکول او پر هغه د قرآن کریم نازلیدل، او په هغه څه سره یې راتک چې له ده وړاندې نورو پیغمبرانو راوړي وو او د الله لخوا یې ملاتړ شوی و، او تر هغه پورې وفات نه شو تر څو چې شریعت بشپړوالي او کمال ته نه و رسیدلی.

نو پر دې پریکړه کول چې هغه نبي دی، د عقل هوښیاري ده!

هغه غیبي نخښانې چې د هغه - په ریښتینولۍ دلالت کوي - له زرو زیاتې دي.

او د معجزو په اړه روایت کوونکي یې ملګري - صحابه کرام - دي، څوک چې له هغه وروسته ریښتوني او تر ټولو نیک انسانان دي.

د حیرانتیا خبره خو دا ده چې سترو صحابه کرامو مخکې له دې چې معجزې ووینې، اسلام قبول کړ، ځکه دوی په دې پوه شول چې محمد صلی الله علیه وسلم ریښتونی دی او هیڅکله یې دروغ نه دي ویلي.

د صحابه کرامو دا دریځ یو هوښیار فکري دریځ دی، ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ریښتینولي د نبوت د اثبات لپاره کافي، حقیقي او څپلواکه دلیل دی... دا ځکه: هغه څوک چې د نبوت دعوه کوي نو یا خو به: په خلکو کې تر ټولو رښتیني انسان وي، ځکه چې هغه نبي دی... او پیغمبر د خلکو تر ټولو رښتینی انسان وي.

او یا خو به تر ټولو دروغجن انسان وي، ځکه چې هغه د ډیرو مهمو او لویو مسئلو په اړه دروغ ایجادوي.

او ریښتنی انسان له دروغجن سره نه ګډیږي مګر د یو جاهل سړي له نظره.

څومره اسانه ده چې یو عاقل انسان د ریښتنې او دروغجن انسان تر منځه توپیر وکړي.

مشرکانو هم د پیغمبر ـ صلی الله علیه وسلم ـ د بعثت په لومړیو ورځو کې اعتراف کړی و چې هیڅکله یې دروغ ندي ویلي، نو ورته یې وویل: هیڅکله مو درباندې دروغ ویل ندي تجربه کړي[16] .

او کله چې هرقل له ابو سفیان څخه تر اسلام راوړلو مخکې وپوښتل: آیا تاسو لدې وینا وړاندې چې دی یې وایي؛ کله مو په دروغ ویلو تورناوه؟

ابو سفیان وویل: نه.

هرقل وویل: هیڅکله به داسې ونه کړي چې خلکو ته دروغ ویل پریږدي او په الله دې دروغ ووایي:

بیا هرقل خپلې خبرې بشپړې کړې او خپله مشهوره وینا یې وویله: "که زه د هغه سره وم، ما به د هغه پښې مینځلې وې[17] ".

کافران په خپل ټول عمر کې لدې عاجز پاتې شول چې یو ځل دروغ وییل پرې د هغه په ټول ژوند کې ثابت کړي، لدې امله قرآن کریم د دوی دغه عمل وغانده چې له نبوت څخه وړاندې د هغه په حالت له پوهېدو سره بیا هم پرې کافر پاتې شول، الله پاک فرمایي:

﴿أَمۡ لَمۡ يَعۡرِفُواْ رَسُولَهُمۡ فَهُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ۝٦٩﴾ [المؤمنون: 69]

---

16 صحيح البخاري 4971 شمېره حديث.

17 صحيح البخاري، :7 شميره حديث.

{ یا که دوی خپل رسول نه دی پېژندلی، پس دوی له ده نه منکران دي[ سورة المؤمنون.]

د پیغمبر حالت او د هغه سیرت خپلواک ثبوت دی پر دې چې هغه پیغمبر دی.

صلی الله علیه وسلم.

کله چې د ریښتینولۍ دلیلونه په عمومي ډول د هغه - صلی الله علیه وسلم - د نبوت ملاتړي او تاییدونکي وي، نو یو عاقل انسان څنګه له دې ټولو څخه انکار کولای شي؟

۲۶- څنګه پوه شم چې پر الله تعالی ایمان راوړلو باندي مکلف یم؟

ج: خپل ځان ته وګوره، پوه به شې، چې ته ازمایل شوې یې، آیا په داخل کې دا شعور نشته چې - درته وایې - ښه کار وکړه، او غلط کار مه کوه؟

که چیرته دې مخې ته پیسې پرتې وي او خاوند یې ورڅخه مصروف وي، نو دا احساس درسره پیدا کیږي چې: دا پیسې واخله او ګټه ترې پورته کړه، او په مقابل کې یې بل احساس درته وايي: دا کار مه کوه، دا حرام او جرم دی.

نو ته د خپل ژوند په هر حالت کې ازمایل شوې یې.

نو دا احساس - د وکړه او مه کوه احساس - ستا په داخل کې شتون لري، ځکه ته د یو کار په کولو امتحانیږي، او هیڅکله بې ځایه نه یې(چې امر او نهي به درته متوجه نه وي)، هیڅکله یو بې ارزښته شی نه یې.

الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّا هَدَيۡنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرٗا وَإِمَّا كَفُورًا٣﴾ [الإنسان: 3]

{ بې‌شکه مونږ ده ته د نېغې لارې ښوونه کړې ده، یا به دی شکر کوونکی وي او یا به ډېر ناشکره وي [سورة الانسان.].

نو د انسان دننه وکړه او مه کړه شتون لری، نو هغه د ژوند په هر حالت کې یا منندوی او یا هم ناشکره دی.

بلکي د انسان د ژوند په هر پړاو کې انسان ښه او بد کولای شي، آیا مسجد ته ځی او یا دا چې لهو او لعب ته ځي.

لدې امله الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ۝٥٦﴾ [الذاريات: 56]

{واو ما پیریان او انسانان ندي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې زما عبادت وکړي [سورة الذاريات]

د ژوند په هر پړاو کې به د الله پاک د بندګۍ او یا سرکښۍ یو ډول ومومې.

څوک چې د الله پاک د امر په ترسره کولو بریالی شو نو هغه ته نجات ورکړل شو او چا چې د الله تعالی له امر څخه سرغړونه وکړه هغه خطا شو.

او پدې خودمختاری د انسان سره د ټولو کړنو په سر محاسبه مرتبیږي.

زموږ د پیدایښت هدف دا دی چې و ازمایل شو او امتحان شو، او همدا موخه ده چې الله تعالی یې له امله پیغمبران رالیږلي او کتابونه یې نازل کړي دي:.

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ ٣٦﴾ [النحل: 36]

{ او يقينًا  مونږ په هر يو امت كې يو رسول لېږلی و (په دي سره) چې تاسو د الله عبادت كوئ او له طاغوت(د غيرالله د عبادت) نه ځان وساتئ، [سورة النحل.].

او وروسته لدې چې امتحان په مرګ سره پای ته ورسېږي، موږ الله ته ورګرځو,

﴿وَمَالِيَ لَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢٢﴾ [يس: 22]

{ او هغه الله ته ورګرځئ. ﴿٢٢﴾ سورة يس.

﴿وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلۡمُنتَهَىٰ ٤٢﴾ [النجم: 42]

{ او دا چې بې‌شكه ستا رب ته (د ټولو مخلوقاتو) ورګرځېدل دي [سورة النجم].

﴿إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلرُّجۡعَىٰٓ ٨﴾ [العلق: 8]

{ بې‌شكه خاص ستا رب ته بېرته ورتلل دي[سورة العلق.]

نو ژر دی چې مونږ به الله ته وروګرځو تر څو راسره د هغه عملونو حساب وشي چې پخوا مو كړي وي..

﴿ثُمَّ يُجۡزَىٰهُ ٱلۡجَزَآءَ ٱلۡأَوۡفَىٰ ٤١﴾ [النجم: 41]

{ او دا چې بې‌شکه د ده کوشش به عنقریب وښوول شي ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفَىٰ ﴿٤١﴾}

بیا به ده ته بدله ورکړی شی، ډېره پوره بدله [سورة النجم.]

هغه عملونه به ولیدل شي چې پخوا دې کړي دي او ژر دي چې په اړه به يې درسره حساب وشي.

﴿فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ﴿٧﴾ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ﴿٨﴾﴾ [الزلزلة: 7-8]

(نو هغه څوک چې د يوې ذرې په اندازه نېک عمل وكړي (،نو) دی به هغه ووینی. ﴿٨﴾

او هغه څوک چې د يوې ذرې په اندازه د شر (او بدۍ) عمل كوي (، نو) دی به هغه ووینی .

[سورة الزلزلة.].

۲۷- ایا پر الله ایمان راوړل او پر انبیاوو کافر کېدل کفایت کوي؟

جواب : نه.

د الله تعالی په شتون ایمان لرل او په پیغمبرانو ایمان نه لرل، د يو کس د مسلمانیدو لپاره بسنه نه کوي، ځکه نو دا څه معنا چې الله؛ خالق، روزي ورکوونکی، او مدبر دی او بیا د هغه پر وحې کفر کوې او له رسولانو يې منکرېږې؟

دا لوی کفر دی.

په حقیقت کې د هغه چا څخه لو مجرم نشته چې د الله تعالی وحې ردوي ، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيَقُولُونَ نُؤۡمِنُ بِبَعۡضٖ وَنَكۡفُرُ بِبَعۡضٖ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ١٥٠ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ حَقّٗاۚ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا ١٥١﴾ [النساء: 150-151]

[إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُوا بَيْنَ اللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُوا بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾ بې‌شکه هغه کسان چې په الله او د هغه په رسولانو کافران کېږي او دوی غواړي چې د الله او د هغه د رسولانو په مینځ کې بېلتون وکړي(په ایمان راوړلو کې) او دوی وایي چې مونږ پر ځینو (رسولانو) ایمان راوړو او په ځینو کافر کېږو او دوی غواړي چې د دې (اسلام او کفر) په مینځ کې (بله) لار ونیسي أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا ۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٥١﴾} دغه کسان په رښتیا کافران دي او مونږ د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تیار کړی دی .[سورة النساء.].

نو څوک چې په الله ایمان ولري او په پیغمبرانو کافر شي نو هغه په رښتیا چې کافر دی.

هر څوک چې له پیغمبرانو څخه په یو سره کافر شو په حقیقت یې په الله کفر وکړ، ځکه چې د الله له وحیې څخه یې انکار وکړ، لدې امله اهل کتاب کافران شول چې د محمد بن عبد الله - صلى الله عليه وسلم - په نبوت یې کفر وکړ.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ شَرُّ ٱلۡبَرِيَّةِ ٦﴾ [البينة: 6]

{ بې‌شکه هغه کسان چې کافران شوي دي، چې اهل کتاب او مشرکان دي، (دوی به) د دوزخ په اور لګې وي، چې په ده لګې به تل ترتله وي. همدغه کسان د خلقو بدترين دي [سورة البينة.].

او د الله تعالى:

﴿وَرَبَطۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ إِذۡ قَامُواْ فَقَالُواْ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَن نَّدۡعُوَاْ مِن دُونِهِۦٓ إِلَٰهٗاۖ لَّقَدۡ قُلۡنَآ إِذٗا شَطَطًا ١٤﴾ [الكهف: 14]

{ خبرداری چې دوی به دوزخ ته ننوځي، حق دی، حق او ګواښ دی .[(١٤) د ق سورت.]

نه اسلام او نه نجات یوازې پدې کې دی چې انسان دا ومني چې الله تعالى خالق، رازق، ژوندی کوونکی، مړکوونکی دی او بس، بلکې د هغه پر رسولانو باور هم اړين دی.

نو د الله پر شتون ايمان او په پيغمبرانو کفر کول بسنه نه کوي او د قيامت په ورځ د الله په وړاندې بنده ته ګټه نه رسوي، ځکه خامخا بايد په الله او د هغه په ټولو پيغمبرانو ايمان راوړل شي.

که - چېرته یوازې - د الله په شتون باور کافي وای، نو نه خو به الله خپل پېغمبران رالېږلي و او نه به یې خپل کتابونه نازل کړي و، ځکه ټول انسانان الله تعالی په فطرت سره پېژني.

هغه الله چې ته یې پیدا کړی یې، هدایت یې درته کړی دی او روزي یې درکړې ده، یوازې همغه دی چې د عبادت مستحق دی لکه څنګه یې چې د خپلو پیغمبرانو او انبیاوو له لارې روا کړی دی.

۲۸- آیا کافر ته د خپلو نیکو اعمالو اجر د الله تعالی لخوا ورکول کیږي؟

ج: نېک عمل هغه فطرت دی چې الله تعالی پرې انسانان پیدا کړي دي، لدې امله ته ګورې چې هر انسان ښه عمل کولای شي، که څه هم هغه کافر او یا مشرک وي، هر څوک ښه عملونه کوي د هغه فطرت له مخې چې هغوی پرې پیدا شوي دي.

خو د نېک عمل د قبلېدو شرط دا دی چې: د الله تعالی لپاره وي، یعني له الله تعالی څخه د اجر د ترلاسه کولو په خاطر وي.

لدې امله هغه څوک چې په الله کافر وي، هغه چې د الله تعالی سره د نورو باطلو معبودانو عبادت کوي ورته وایو: هغه چا ته ورشه چې ته یې په خپلو نیکو کارونو کې له الله تعالی سره شریک بولې، له هغوی څخه خپل اجر تر لاسه کړه، ځکه چې تا خپلې نیکې کړنې د یو الله د روی لپاره نه تر سره کولې.

د داسې یو چا په اړه تصور وکړئ چې کورنۍ یې روزلې وي، لګښت یې پرې کړي وي تر دې چې یو پیاوړی ځوان شي، بیا هغه نورو ته د خدمت په موخه لاړ شي، آیا هغه

حق لري چې بيرته خپلې کورنۍ ته لاړ شي او ورته ووايي: زما مزدوري راکړئ چې د نورو خدمت مې کړی دی.؟

نو هغه چاته دې لاړ شي چې خدمت يې ورته کاوه او خپله مزدوري ورڅخه واخلي.

او الله تعالی لره اوچت صفات دی.

نو الله هغه ذات دی چې ته يې پيدا کړی يې، روزي يې درکړې ده، او په تا يې د ټولو نعمتونو لوريينه کړې ده، بيا ته د هغه عبادت پريږدې او غواړې د کړنو مزدوري دې ورڅخه واخلې، دا څنګه؟

لدې امله الله تعالی فرمايي:

﴿وَقَدِمۡنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُواْ مِنۡ عَمَلٖ فَجَعَلۡنَٰهُ هَبَآءٗ مَّنثُورًا٢٣﴾ [الفرقان: 23]

{ او دوی چې څه عمل هم کړی دی هغه ته به مونږ ورسو، نو هغه به خور کړی شوی ګرد وګرځوو[ .سورة الفرقان].

او الله پاک فرمايلي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ٱلۡغَٰفِلَٰتِ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ لُعِنُواْ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ٢٣﴾ [النور: 23]

{ او هغه کسان چې کافران شوي دي، د هغوی عملونه د سراب (شګې ګـل) په شان دي چې په هوار ډاګ ګڼې دي، تږی په هغه باندې د اوبو ګـمان کوي، تر دې چې کله ده ته راشي، نو دغه هېڅ شی ونه مومي[ سورة النور.].

هغه کسان چې کافران دي د خپل عمل د ثواب مستحق ندي که څه هم هغه نیک وي، ځکه چې هغوی کافران دي او په نیک عمل سره یې د خپل رب رضا تر لاسه کول موخه نه وه، او نه یې د خپل خالق د رضایت غوښتنه کړې وه.

خبره یوازې د نیک عمل نده، ځکه مونږ ټول د فطرت له مخې د نیکو کړنو په تر سره کولو سره پیدا شوي یو، بلکې خبره دا ده چې ولې دا کار کوئ او د چا لپاره یې کوئ؟ آیا دا د خپلو شخصي ګټو لپاره کوئ، یا یې د ځان ښودنې په موخه کوئ، او که د الله نه پرته یې بل چا ته کوئ؟

دا ټول د الله لپاره ندي، او د نیک عمل د ثواب تمه ورڅخه هم نه کیږي، د کوم تمه چې د الله تعالی څخه کیږي.

۲۹- کله چې د اسلام دین حق دی نو ولې شکونه او شبهې راولاړیږي؟

ج: شک هغه مسأله ده چې مسلمان په خپل دین کې نه پوهیږي او تر هغه وخته پورې ورسره په ټکر کې وي چې ځواب یې پیدا نه کړي.

او الله پاک دا اراده کړې ده چې د دین په فرعي مسایلو کې ځینې شکمن مسائل وي، تر څو هغه څوک چې باطل غواړي د خپل رب له اطاعت څخه مخ واړوي.

الله تعالی فرمایي:

﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ٧﴾ [آل عمران: 7]

{ دی هغه ذات دی چې په تا باندې يې کتاب نازل کړی دی، په دې کې ځينې محکم (ښکاره مراد والا) آيتونه دي؛ چې هغه د کتاب اصل دي، نور يې متشابهات (پټ مراد والا) دي، نو هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې کوږ والی دی؛ نو هغوی په هغو(آيتونو) پسې کېږي چې په دې (قرآن) کې متشابه (پټ مراد والا) دي، د فتنې لټولو لپاره او د هغو د مراد معلومولو لپاره، حال دا چې د هغوی په تاويل (مراد) باندې نه پوهېږي مګر الله، او هغه کسان چې په علم کې پاخه دي؛ هغوی وايي: مونږ پر ده ايمان راوړی دی، ټول (محکم او متشابه ايتونه)زمونږ د رب له جانبه دي، او نصيحت نه اخلي مګر د صفا عقل خاوندان [سورة آل عمران.].

فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ: هغه څوک چې په زړه کې يې انحراف وي، د دې شکونو پيروي به کوي، د اختلاف په لټه کې به وي او له الله تعالی څخه د لرې کېدلو په لټه کې به وي.

الله تعالی په خپل حکمت سره غوښتل چې ايمان او کفر وي.

﴿هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُمۡ فَمِنكُمۡ كَافِرٞ وَمِنكُم مُّؤۡمِنٞۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ۝٢﴾ [التغابن:
2]

{ نو په تاسو کې ځينې کافر دي او ځينې په تاسو کې مومن دي[ سورة التغابن.]

هغه څوک پدې شکونو منګولې لګوي چې د کفر اراده لري او له دين، لمانځه او ايمان څخه پرې مشغوليږي.

او مؤمن د محکمو(چې مراد يې ښکاره وي) او ثابتو دلايلو پيروي کوي؛ هغه چې (ام الکتاب)

دی، او دين او رسالت پرې اعتبار پيدا کوي، که چېرته يې داسې څه ومونډل چې نه پرې پوهيږي نو په اړه يې پوښتنه کوي، خو هيڅکله له خپل دين او لمانځه څخه پداسې څه نه مشغوليږي چې نه پرې پوهيږي.

نو پرته له هغه انسان څخه چې په زړه کې يې ناروغي وي بل څوک له خپل دين څخه په هغه څه نه مشغوليږي چې نه پرې پوهيږي:.

﴿ وَلِيَقُولَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ وَٱلۡكَٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلٗاۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ ۝٣١﴾ [المدثر: 31]

﴿ او د دې لپاره چې هغه کسان ووايي چې د هغوی په زړونو کې مرض دی او کافران: الله په دې سره د مثال په لحاظ څه اراده کړې ده همداسې الله ګمراه کوي چا ته چې وغواړي او هدايت ورکوي چا ته چې وغواړي [سورة المدثر.].

همدارنګه د شکونو(شبهو) د موجوديت له حکمت څخه دا هم دی چې د دې متشابهاتو په وجه په دين او علم کې د بصيرت خاوندان يو له بل څخه جلا کيږي، نو ته ګورې چې يو عالم چې د متشابهه مسئلو په جواب پوهيږي له هغه عامي څخه جلا پيژندل کيږي چې نه په دين کې ژوره پوهه لري او نه يې زده کړه کړې وي، نو الله د هغه چا درجې لوړوي چې علم ورکړل شوی دی.

حقيقت روښانه دی، مګر متشابه بايد شتون ولري څکه چې پر مټ يې غلبيلول کيږي، (يعني سم له ناسم څخه جلال کيږي).

په مخلوقاتو کې د الله کړنلاره مکلفيت دی، او په مکلفيت کې يې کړنلاره د ځينې حکمتونو پټ ساتل دي، او ګټونکي هغه څوک دی چې په هغه څه چې پوهيږي استدلال وکړي پر هغه څه باندې چې پټ او باريک وي، او تاواني هغه څوک دی چې هغه څه د ځان لپاره پرده اوسپر وګرځوي چې نه پرې پوهيږي، او دا کار يې لدې څخه بې برخي کړي چې په هغه څه استدلال وکړي چې پرې پوهيږي.

۳۰- الله ولې بدي(شر) پيدا کړی؟ يا په بل عبارت: يو مسلمان څنګه د "شر قضيې" ته ځواب ورکړي؟

ج: د بدۍ (شر) فتنه؛ تقريبا په ټول تاريخ کې د الحاد تر ټولو لوی لامل دی: .

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعۡبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرۡفٖۖ فَإِنۡ أَصَابَهُۥ خَيۡرٌ ٱطۡمَأَنَّ بِهِۦۖ وَإِنۡ أَصَابَتۡهُ فِتۡنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةَۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ١١﴾ [الحج: 11]

{ او په خلقو کې ځینې هغه دي چې د الله عبادت کوي په یوې ډډې باندې، نو که ده ته خیر ورسیږي (نو) په دې (دین) مطمئن (او قایم) پاتې شي او که ده ته څه مصیبت (ازمېښت) ورسیږي (، نو) بېرته په خپل مخ (کفر ته) وګرځي، ده (خپل) دنیا او اخرت ضایع کړل، همدغه ښکاره تاوان دی [سورة الحج.].

داسې کسان شته چې په الله د کومې آزموینې، امتحان او یا مصیبت له امله کفر کوي.

دلته، کیدی شي یو ملحد پوښتنه وکړي او ووایي: ولې بدي (شر) له اساسه شتون لري؟

جواب ساده دی: ځکه چې مونږ مکلف یو.

ځکه چې مونږ د امتحان په نړۍ کې یو.

زمونږ رب العالمین فرمایی:

﴿كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِۗ وَنَبۡلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلۡخَيۡرِ فِتۡنَةٗۖ وَإِلَيۡنَا تُرۡجَعُونَ ٣٥﴾ [الأنبياء: 35]

{ او مونږ تاسو په شر او خیر سره ازمایو، ازمایل، او تاسو به خاص مونږ ته راوستلی شئ

[سورة الأنبياء.].

خير او شر لدې امله شتون لري چې ته مکلف يې، او تکليف ستا د شتون اصلي موخه ده.

الله تعالی فرمايلي:

﴿ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْمَوْتَ وَٱلْحَيَوٰةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفُورُ ۝٢﴾ [الملك: 2]

{ هغه ذات چې مرګ او ژوند يې پيدا کړی دی، د دې لپاره چې تاسو وازمايي چې په تاسو کې د عمل په لحاظ کوم يو ډېر ښه دی او هم دی ښه غالب، ډېر بخښونکی دی [سورة الملک].

د شر، فتنو او امتحانونو شتون په خپل ذات کې د ديني مسئلې د سموالي او د الحاد د خطا تر ټولو لوی ثبوت دی.

که مونږ د مادي نړی زيږنده وو، نو خير او شر به مو نشو درک کولای.

که چيرته ټول کاينات بې معنا وای، نو هيڅکله به هم مونږ ته واضحه شوې نه وه چې بې معنا دي.[۲۳] ځکه چې د الحاد له نظره موږ په سختو مادي حتمياتو کې روان يو، او د طبيعت قوانين پر موږ پلي کيږي او په دې چوکاټ کې به د بدی په ماهيت يا د بدی د کلمې معنی هيڅکله درک نه کړای شو.

آیا زیاتره حیوانات د شر په ستونزه پوهیږي پړاو په پړاو؟

د بدۍ درک کول پدې معنی دي چې موږ د دې نړۍ بچیان نه یو، او دا چې موږ د بدۍ د شتون په اړه خپله پوهه د ډاروینین مادیالیزم د شتون څخه پرته له بل ځای څخه اخلو.

نو مونږ د آسماني اساس سره تړاو لرو، نه د ځمکې الحادي مادې سره، او دا یوازینی وضاحت دی ځکه چې مونږ بدي درک کوو او پرې پوهیږو.

تر هغه چې موږ مکلفیت ولرو، نو دا طبیعي ده چې هلته فتنې او ناورین شتون ولري، او دا زموږ لپاره طبیعي ده چې بد وپیژنو.

بدي، یو څه درد، او د ګناه کولو وړتیا یوه طبیعي اړتیا، او د آزادۍ ارادې او الهي مکلفیت ښکاره پایله ده.

د بدیو، آفتونو، بدبختیو او شهوتونو موجودیت د ښو انسانانو ښه او د فاسدو انسانانو هغه بد راښکاره کوي.

دا د حیرانتیا خبره ده کله چې ملحدین د خالق له شتون څخه انکار کوي ځکه چې بد شتون لري، دوی دا تحلیل کاروي:

-1که پلار صالح وي او د خپل زوی لپاره ښېګڼه غواړي، نو ولې یې اجازه ورکړه چې د میکروبونو په وړاندې دردناک پیچکارۍ ورکړل شي؟

-2آیا د پیچکارۍ پر مهال یې زوی ته درد ونه رسیده؟

3-چې داسې ده نو پلار نشته [18].

آيا دا يوه منطقي برداشت ده؟

بيا دا طبيعي ده چې موږ په ښه او بد کې د الهي حکمت په ټولو وړو او پټو نه پوهيږو.

او الله تعالی د خضر -عليه السلام- د اعمالو حکمت زموږ پيغمبر موسی - عليه السلام - ته روښانه کړ، که څه هم هغه؛ هغه عملونه دي چې په ښکاره توګه د منلو وړ ندي مګر دا د لويو نيکيو سره مل دي، او د موسی او الخضر کيسه په قرآن کې د روايت او کيسې په توګه نده راغلې، بلکې د تدبر، او د بشري نفس پر نيمګړتياوو د اعتراف په توګه راغلې ده، او په بيړه د هغې د پريکړې له امله.

د بدۍ په مسئله کې عجيبه خبره دا ده چې: که په دنيا کې شر نه وای، نو زه به له هغه ځای څخه وتلی نه وم چې زه پکې زيږيدلی يم!

او نه خو به کوم تمدن رامنځته شوی و، نه به ښارونه، کارخانې او کورونه آباد شوي وو، او خلکو به کار ته اړتيا نه درلوده، او نه به چا د ناروغۍ په وړاندې د مقاومت، او استراحت د جلبولو په موخه د ستونزې د حل کولو  او يا د يوې مفکورې د اختراع لپاره فکر کړی و!

او انسان به اړتيا نه درلوده چې د خپل زيږون له ځای څخه بل ځای ته هيڅ لاړ شي.

ځکه چې نه شر شته، نه سترتيا، نه امتحان شته او نه ستونزې تر څو ورته حل لارې ولټوي.

---

18 له کتاب: أسس غائبة، م. أحمد حسن، څخه د مرکز دلائل چاپ، په تصرف سره.

نو ولې سترړیا، او شپه په ویښه تېرول، فکر کول او کار شته

نو شر هغه اړتیا ده چې په دنیا کې ترې هیڅ چاره نشته!

نو فکر وکړه!

او د الله څخه ووېرېږه، ځکه چې ته مکلف یې( الله ته جواب ویونکی)

ډیری خلک دي چې کله په مصیبتونو او بدیو اخته شي، نو دوی بیرته الله ته رجوع کوي او نیکان جوړیږي، نو لوی الله لره پاکي ده او هغه د ستاینې وړ دی.

د الله په ټولو تقدیرونو کې خیر او حکمت دی.

او مسلمان باید د الله په ټولو تقدیراتو ایمان ولري، نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

"که د احد د غره په اندازې سره زر ولرې او د الله په لار کې یې مصرف کړې الله به یې درڅخه قبول نه کړي پداسې حال کې چې ته په تقدیر ایمان و نلرې، او پدې پوه نه شې چې څه درته رسیږي هیڅکله به ترې بچ نه شې، او هغه چې ترې بچیږي هیڅکله به درته ونه رسیږي، او که څوک پرته لدې عقیدې مړ شو نو اور ته به داخل شي [19]."

نو الهي تقدیرات که خیر وي او یا شر، پر مسلمان واجب دي چې خوښي پرې څرګنده کړي.

او ټول الهي تقدیرونه خیر دي، اګر که ځینې یې ښکاره شر، تنګسه او ضرر ښکاري، خو په پای کې یې پایله لوی خیر وي او الهي حکمت پکې نغښتی وي.

---

[19] صحيح سنن أبي داود، حديث شميره:4699.

31- آیا دین د هغو دیني جګړو لامل شوی و چې یو وخت یې ټوله ځمکه په سر اخستې وه؟

ج: بشریت په زرونو کلونه د توحید په ادیانو او څلور زره کاله د دریو سترو ابراهیمي ادیانو سره ژوند کړی او دین د بشریت لپاره مستقیم ګواښ ندی جوړ کړی، بلکې بشریت ته یې د لوړو اخلاقو ارزښتونه وړاندې کړي دي. چې مؤمن او ملحد پرې متفق وو، او غښتلې تمدنونه یې رامنځته کړل، بلکه کولای شو ادعا وکړو چې په ځمکه کې ټول خیر د همغو نبوتونو اغیزې دي، دین محکمې له زرګوو قضیو څخه خلاصې کړې او لدې ټولو نه علاوه دین په ځمکه کې د انسان د شتون لپاره د علم، سلوک او اخلاقي ارزښتونو بنسټ کېښود. ! او هغه هیوادونه چې توحیدي قوانین یې منلي اوس هم کلتوري تنوع لري او خپل مخالف یې د ځان سره ساتلي او د ورته توحیدي قوانینو لپاره یې محافظوي چت چمتو کړی دی. پداسې حال کې چې یوه پیړۍ کې ځینې هیوادونه الحاد ته نږدې شوي، ټول انسانیت د تباهۍ په درشل کې وو! بیا اوس ملحدان راځي او راته وایي چې دین بشریت ته ګواښ دی، د بشریت په تاریخ کې له الحاد څخه بله خطرناکه طریقه نشته، په پخواني شوروي اتحاد کې د ملحد لینن له خوا د کولاج قتل عام، په نازي جرمني کې د توکمیزو لړکیو له منځه وړل، د ملحد پول پوټ (Pol Pot)

له خوا د کمبوډیا د څلورمې برخې نفوس خالي کول، په لوی کلتوري انقلاب کې د ملحد ماو زیډونګ (Mao Zedong) په لاس د 52 ملیونه چینایانو وژنه، او په اروپا کې د ملحدانو د لیګ راڅرګندېدل

(League of Militant Atheists) ، چې په رسمي توګه یې 42 زره مذهبي بنسټونه - کلیساګانې او جوماتونه وتړل، او لسګونه زره متدینه خلک یې ووژل. د هغه مذهبي ملحدینو پرته چې د تګلارې بنسټ اېښودونکي یا الحادي مفکوري ته کار کوونکي وو،

لومړۍ او دويمه نړيواله جګړه دواړه الحادي جګړې وې؛ د الحادي مفکورو او د نژادي پاکوالي حرکت لخوا اداره کېدې، پايله يې د توکم پالنې له منځه وړل وو. د نړۍ شاوخوا 5٪ نفوس يې په پايله کې له منځه ولاړ دې جګړو ګټونکی او بايلونکي دواړه د پيړۍ دريمه برخه شاته وګرځول، او فيلسوفانو د تمدن د پای ته رسيدو په اړه د کنايې په توګه د پاريس په مرکز کې يو د تشو متيازو ځای (کمود) کېښود. الحادي جګړو کې دومره اټومي وسلې پرېښودې چې د ټول بشريت د له منځه وړلو لپاره څو ځله کافي دي، د شلمې پيړۍ د جنګونو ساده لوستل د الحاد اوږدې بد بختۍ په ډاګه کوي. د هغه تر شا دا مفکوره پاتې شوه چې په راتلونکې جګړه کې د بشري نسل مړينه يو باوري نظر دی، او دا د الحاد تمه شوی راز دی.

۳۲- ولې مسلمانان د خپل توحيدي دين سره سره وروسته پاتې شول په داسې حال کې چې لويديځ ډير پرمختللی دی؟

ج: همدا د تمدن پوښتنه ده!

او د دې پوښتنې په مقابل کې پيغمبران څومره ځوريدلي دي!

او د دې چارې له امله څومره پيروان کم شول!

د تمدن پوښتنه د وخت په اوږدو کې د ملتونو د کفر اصل دی.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَيُّ ٱلْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ۝٧٣﴾ [مريم: 73]

{ او کله چې دوی ته زمونږ ایتونه ولوستل شي؛ چې ښه واضح دي، (نو) کافران شوي کسان هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی دی وایي؛ په دغو دواړو ډلو کې کومه یوه د مقام په لحاظ ډېره غوره او د مجلس په لحاظ ډېر ښایسته ده [سورم مریم.].

کله هغه آیتونه پر دوی باندې ولوستل شي چې د دین د صحیح والي دلائل پکې دي، نو کافران د کفري ملتونو په پرمختګ استدلال کوي

(أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا).

په دغو دواړو ډلو کې کومه یوه د مقام په لحاظ ډېره غوره او د مجلس په لحاظ ډېره ښایسته ده

ښیرونکی ابراهیم السکران ـ حفظه الله ـ وایي: "دا یو تاریخي قانون او تکراري کائناتي سنت دي. پدې زوړ ارشیف کې په فکر کولو سره حیرانتیا پای ته نه رسیږي. د الله لپاره د بلونکو ډله د نبوتونو له سباوون څخه نیولې د اسلامي نړۍ تر ننۍ کړنلارې پورې تل د "مادي قوتونو" سره مخ کیږي چې دوی پرې برلاسي کیږي او خلک د هغه وحې پیروۍ کولو ته هڅوي چې له دوی سره ده.

او د پیغمبرانو تجربو ته وګورئ، تاسو به ومومئ چې الهي وحیې ته د بلونکي او په مادي قوت سره د امتحاني کیدلو په ډګر کې دوی لکه د ناطقې مجسمې په څېر ثابت پاتې شوي، او ته به وګورې چې د مادی ځواک په وړاندې خلکو زړونه بایللي دي او وحی ته له تسلیمېدو او غاړې ایښودلو یې ګرځولي دي ، او ته به هغه کسان چې د دین لپاره کار کوی ومومې چې له دغو دواړو حالتونو ځوریدلي لکه په ظاهري مادیاتو د خلکو زړه بایلل، نوح علیه السلام ته یې قوم په ټول مادي صراحت سره وویل:

﴿ وَمَا نَرَىٰكَ ٱتَّبَعَكَ إِلَّا ٱلَّذِينَ هُمۡ أَرَاذِلُنَا ﴿٢٧﴾ ﴾ [هود: 27]

{ مونږ تا نه وينو مګر زمونږ په شان يو بشر او مونږ نه وينو تا چې ستا پيروي کړې ده مګر هغو کسانو چې دوی زمونږ تر ټولو لاندې خلق دي [سورة هود.].

او د الله د پيغمبر موسى - عليه السلام - د ظهور سره سم، د وحى په وړاندې د مدني قدرتونو د ظلم او استبداد لړی يو ځل بيا تکرار شوه.

﴿وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيۡتَ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَأَهُۥ زِينَةً وَأَمۡوَٰلٗا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِكَۖ ﴿٨٨﴾﴾ [يونس: 88]

{او موسٰى– عليه السلام– وويل: اى زمونږه ربه! بې‌شکه هم تا فرعون او د هغه سردارانو ته په دنيايي ژوند کې زينت او مالونه ورکړي دي، اى زمونږه ربه! د دې لپاره چې دوی ستا له لارې نه (خلق) بې لارې کړي [سورة يونس.].

او زموږ د پيغمبر محمد - صلى الله عليه وسلم - لپاره دا حالت نوی نه و.هغه کسان چې د هغه له نبوت او ور سره وحيې څخه منکر وو ،هغوی د مخ اړول د وحې او نبوت څخه د هغه د مادي کمزورتيا له امله و.

﴿وَقَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنَ ٱلۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيمٍ﴿٣١﴾ ﴾ [الزخرف: 31]

{ او دوی وویل: دا قرآن په دوه کلیو (ښارونو) کې په یو غټ سړي ولې ندی نازل شوی؟

[سورة الزخرف]

د ابراهیم السکران وینا پای ته ورسېده.

بشریت په ټول عمر او د نبوت په ټول تاریخ کې د کفارو د مادي ځواک سره د لیوالتیا په خېر له بل لوی مصیبت سره مخ شوی ندی.

سره لدې چې د پرمختګ او حقیقت ترمنځ هیڅ اړیکه نشته.

مادي پرمختګ او وروسته پاتې کېدل د چا په حق او باطل پورې اړه نه لري.

ضروري نده چې یو نیک او صالح انسان دي خامخا د تمدن له اړخه پرمخ تللی وي.

کېدای شي یو کس اسلامي لارښوونو ته ښه ژمن وي خو ساده او غریب وي او کېدای شي برعکس وي.

او ځومره زیات قومونه په مدني توګه پرمختللي وو، په داسې حال کې چې د الله له شریعت، دین او وحیې څخه تر ټولو لرې وو.:

﴿أَوَلَمْ يَسِيرُواْ فِي ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْۚ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَأَثَارُواْ ٱلْأَرْضَ وَعَمَرُوهَآ أَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا ٩﴾ [الروم: 9]

{ آيا دوی په ځمکه کې نه گرځي، نو چې وگوري چې د هغو کسانو انجام څنگه و چې له دوی نه مخکې وو، هغوی له دوی نه په قوت کې زيات سخت وو او هغوی ځمکه څیروله او دا يې اباده کړې وه ډېره له هغې نه چې دوی دغه اباده کړې ده .[سورة الروم].

مادي پرمختګ او مالي شتمني د حق پالونکي لپاره معيار نه دی

﴿فَلَمَّا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَرِحُواْ بِمَا عِندَهُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ۝٨٣﴾ [غافر: 83]

{ نو کله چې دوی ته د دوی پېغمبران په ښکاره دليلونو سره راغلل، (نو) دوی به په هغه علم خوشالي (او لويي) شروع کړه چې له دوی سره و، راگیر کړل دوی هغه عذاب چې دوی وریوري استهزاء کوله[سورة غافر].

نو د مادي پرمختګ ستاينه په خپل ذات کې نه ده او نه هم په خپل ذات کې د ملامتۍ وړ ده، بلکې تر هغه حده ستايل کېږي چې د الهي وحې له مخې يې توصيه شوې وي، او دا چې څومره پکې دين تطبيق شوی وي. او دا چې تاسو په خپل دين کې له هغې څخه څومره ګټه پورته کوئ، او دا چې څومره يې د خلکو په ګټه او د الله لپاره د هغوی د چارو د سمون په موخه کارولی شئ.

او همدا اړين پرمختګ دی.

د انسانانو تر منځ د حقیقي توپیر معیار د دوی په مادي پرمختګ کې نه دی، بلکې د تقوا او نیکیو په توپیر کې دی، او مادي پرمختګ د یوې وسیلې په توګه وي نه د مقصد په توګه ... دا خلکو ته د الله لپاره د خدمت او ګټې رسوونې په موخه وي.

په دې توګه، مادي پرمختګ باید په الهی وحیې سره پاک شوی وي او همدا یوازینی اړین پرمختګ دی.

او همدا په ځمکه کې ریښتینی استازیتوب دی: الله تعالی ته د بندګۍ کولو استازولي، او د ژوند په ټولو اړخونو کې ایماني پاکوالی:.

﴿ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ٤١﴾ [الحج: 41]

{ هغه کسان دي چې که مونږ دوی ته په ځمکه کې قدرت ورکړ (نو) دوی به لمونځ قايموي او زکات به ادا کوي او د نېکۍ حکم به کوي او له بدۍ نه به منع کوي، او خاص د الله لپاره د کارونو انجام دی[سورة الحج.].

او په دې پوه شه چې که مسلمان هغه څه وکړي چې پرې لازم دي، نو الله تعالی به ورته د هر خیر، نیکمرغۍ، په دنیا کې د پرمختګ، په اخرت کې د خلاصون او سرلوړۍ اسباب اسانه کړي..

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ ٥٥﴾ [النور: 55]

{ الله وعده کړې د هغو کسانو سره چې ایمان يې راوړی دی، له تاسو او نېك عملونه يې کړي دي، چې خامخا هرومرو به دوی ته په ځمکه کې خلافت ورکوي لکه چې هغو کسانو ته يې خلافت ورکړی و چې له دوی نه مخکې وو او خامخا ضرور به دوی ته د دوی هغه دین ثابت (او قوي) وګرځوي چې هغه (الله) د دوی لپاره غوره کړی دی او خامخا ضرور به دوی ته د دوی له وېرې نه پس امن په بدل کې ورکړي، چې دوی به زما عبادت کوي او زما سره به هېڅ شی نه شریکوي، او هر څوك چې د دغو (انعامونو) نه وروسته کافر شو، نو همدغه کسان فاسقان دي }.[سورة النور. ]

او کله چې مسلمانانو خپل دین پلی کړ، دوی په دین او دنیا دواړو کې امامان وګرځېدل.

اسلام د دوی په لاسونو داسې یو تمدن وړاندې کړ چې ۱۲۰۰ کاله وغځېده، او دا تر دې دمه د نړۍ تر ټولو اوږد تمدن و چې له کوم خنډ او مداخلې پرته يې دوام وکړ.

نو اسلام - هغه دین دی - چې پر مټ يې اسلامي تمدن رامنځته شو.

او اسلام یوازیني هغه دین دی چې تمدن رامنځته کړ.

پاتې دينونه د تمدنونو غيرېږ ته ولوېدل.

تاسو ګورئ چې لويديځ تمدن د عيسويت غيرېږ ته ولويد او هندي تمدن د هندويزم غيرېږ ته ولويد.

خو يوازينی دين چې تمدن يې رامنځته کړ هغه: اسلام دی.

کله چې مسلمانان پر دې پوه شول چې د دين په وړاندې بايد څه وکړي، نو په مادي او معنوي لحاظ يې د نړۍ مشري وکړه.

کله چې په ۱۴۵۳ ميلادي کال کې اسلام قسطنطنيې ته داخل شو، په اروپا کې د منځني ختيځ توره دوره پای ته ورسېده.

د تورې دورې د پای نيټه ۱۴۵۳ ميلادي کال دی، او دا همغه کال دی چې اسلام پکې اروپا ته داخل شو.

اروپا ته د اسلام له ننوتو سره سم د علم رڼا خپره شوه.

د کانګرس په کتابتون کې، د کتابتون د مرکزي تالار په چت کې داسې نقاشي شوي ده چې د لويديځ تمدن د پرمختګ سرچينې په ګوته کوي، او اسلام يوازينی دين دی چې په اوو دوائرو کې ذکر شوی.

اسلام يوازينی دين دی چې ذکر شوی او د طبيعي علومو پورې ځانګړی شوی.

ISLAM: PHYSICS

په داسې حال کې چې پاتې ځانګې د هېوادونو په نومونو پورې او هغه څه چې دغو هېوادونو له ادبي، هنري یا ژبني پرمختګ څخه وړاندې کړي دي اړه لري

اسلام علم وړاندې کړ او ۷۰۰ کاله په نړۍ کې د علومو نړیواله ژبه: عربي وه[20]

که مسلمانان خپل دین اصلاح کړي نو دنیا به یې سمه شي.

۳۳- د الله تعالی د عبادت ثمره څه ده؟

ج: انسان د خپل فطرت له مخې خپل ځان نه پېژني، روح یې ارام نه وي او د زړه یوازیتوب یې د الله - تعالی - له عبادت پرته نه ارامېږي:.

﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ۝٢٨﴾ [الرعد: 28]

{ هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی او د هغوی زړونه د الله په ذکر سره مطمئن کېږي، خبردار شئ! یواځې د الله په ذکر (یاد) سره زړونه مطمئن کېږي.[ سورة الرعد .]

عبادت سینې ته سکون ورکوي.

﴿وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدۡرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ۝٩٧ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ۝٩٨﴾ [الحجر: 97-98]

20 https://www.telegraph.co.uk/news/science/science-news/3323462/Science-Islams-forgotten-geniuses.html

{ او يقينًا په تحقيق سره مونږ ته معلوم دي چې بې‌شکه ستا سينه تنګېږي په هغو خبرو چې دوی

يې وايي. ﴿٩٨﴾ نو ته د خپل رب له حمد (ستاينې) سره تسبيح وايه او ته شه له سجده کوونکو څخه

وَاعْبُدْ او د خپل رب عبادت کوه .[سورة الحجر.].

اعْبُدْ رَبَّكَ: فيطمئن صدرُك. د خپل رب عبادت وکړه:نو سينه به دې آرامه وي.

له همدې امله، دوه رکعته په عاجزۍ او فکر سره د انسان په روح کې هغه څه کوي چې د رواني آرامې ناستې ساعتونه يې نه کوي. په عبادت کې د انسان د روح سکون دی او هر څوک چې د الله له ذکر څخه لرې وي سينه يې تنګيږي. تل به يې ګورې چې دنيا ته ليواله وي، نو نه خو هغه مړيږي او نه ډاډمن کيږي:.

﴿وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ١٢٤﴾ [طه: 124]

{ او هغه څوک چې زما له ذکر (قرآن) نه مخ وګرځوي، نو بې‌شکه د ده لپاره ډېر تنګ

ګذران (او ژوند) دی [سورة طه.]

او هر څومره چې د انسان رزق پراخه وي، بيا به هم له ايمان پرته په ډير سخت حالت کې ژوند کوي، او په يوه ګرمه سيالي کې به پای ته نه رسيږي ځکه چې مجهوله پای لري، نو ته به تل هغه په انديښنو کې ګورې.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: چاسره چې تل د دنيا سوچ او فکر وي الله به د هغه ټولې چارې ګډې وډې کړي، او له دنيا څخه هيڅ ورته رانشي پرته له هغې اندازې

چې الله ورته لیکلي وي، او دا چې سوچ او فکر چې اخرت سره وي، الله به يې چارې ورته منظمې کړي، او مالداري به يې زړه کې وګرځوي، او دنيا به ورته ككړه پوزه راروانه وي].۲۸. ]

عبادت مسلمان؛ دنيا ته له سرټيټوني خلاصوي او ازادوي يې.

له همدې امله هغه مسلمان چې په حقه د الله عبادت کوي، هغه انسان دی چې د ژوند په معنا پوه شوی دی، او د دې نړۍ په ارزښت پوه شوی، او پدې نړۍ کې د خپل شتون په مقصد پوه شوی او پدې پوه شوی چې شتون يې پدې نړۍ کې د آزموينې لپاره دی، او د دې لپاره چې په حقه د خپل رب عبادت وکړي، نه د دې لپاره چې په اندېښنو کې ژوند وکړي چې هيڅ پايله ورته نه لري، زمونږ پاک رب فرمايلي دي:

﴿ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلۡمَوۡتَ وَٱلۡحَيَوٰةَ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفُورُ ٢﴾ [الملك: 2]

{ هغه ذات چې مرګ او ژوند يې پيدا کړی دی، د دې لپاره چې تاسو وازمايي چې په تاسو کې د عمل په لحاظ کوم يو ډېر ښه دی او هم دی ښه غالب، ډېر بخښونکی دی [سورة الملک].

-الله تعالی ته د تسليميدو نښې څه دي؟ يا په بل عبارت: تاسو څنګه پوهيږئ چې تاسو په بشپړ ډول الله تعالی ته تسليم شوي ياست؟

ج: الله تعالی ته د تسليمېدو نښې څلور دي؛ او هغه دا دي:

لومړی: د خپل ژوند په هر کوچني او لوی کار کې د الله بندګي، الله تعالی فرمايي:

﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝١٦٢ لَا شَرِيكَ لَهُۥ ۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُسْلِمِينَ ۝١٦٣﴾ [الأنعام: 162-163]

[ ته ووايه: بې‌شكه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ خاص د الله رب العالمين لپاره دي.

لَا شَرِيكَ لَهُۥ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٦٣﴾} د هغه هېڅ شريک نشته او ما ته د همدې (توحيد) حكم شوى دى او زه تر ټولو مسلمانانو اول يم . [سورة الأنعام.].

صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّـهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ: هر څه چې كوم د الله لپاره يې كوم، زه الله ته لمونځ كوم، د خپل مور او پلار اطاعت د الله لپاره كوم، مطالعه او زده كړه كوم تر څو د الله لپاره خلكو ته ګټه ورسوم، او ويده كيږم تر څو سبا ته ځواكمن اوسم د هغه څه په تر سره كولو چې الله يې راته د كولو امر كړى.

دا په هر عمل كې د الله بندګي ده او دا د الله په وړاندې د تسليمېدو له لومړنيو نخښو څخه دي.

دويمه نخښه: د دې لپاره چې تاسو په بشپړ ډول الله ته تسليم شئ: د هغه څه پيروي كول دي چې الله پرې امر كړى او له هغه څه څخه ډډه كول دي چې هغه ترې منع كړې ده.:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَوَلَّوْاْ عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ ۝٢٠﴾ [الأنفال: 20]

{ اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو د الله او د هغه د رسول حكم منئ او له دې (اطاعت) نه مه ګرځئ، حال دا چې تاسو يې اورئ[ سورة الأنفال.]

او الله تعالی فرمايي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱدۡخُلُواْ فِي ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةٗ وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ٢٠٨﴾ [البقرة: 208]

{ ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! په اسلام کې پوره پوره داخل شئ [سورة البقرة].

فِي السِّلْمِ أي: يعنې په اسلام کې. ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً: يعنې هر هغه څه چې الله پرې امر کړی و د هغه پابند اوسئ او له هغه څخه نه يې چې منع کړې ياست منع شئ.

هغه څه چې الله راته پرې امر کړی وي کوم يې.... له هغه څه نه يې چې منع کړی يم، ترې منع کيږم، او همدا الله تعالی بشپړ تسليميدل او غاړه ايښودل دي .الله تعالی ته د تسليميدو دريمه نښه دا ده چې: موږ هغه څه ته غاړه کيږدو چې الله يې راته حکم کړی، نو د هغه په حکم خوشحاليږو او منو يې.

﴿أَلَا يَعۡلَمُ مَنۡ خَلَقَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ١٤﴾ [الملك: 14]

{مورږ هر الهی قانون منو او انکار ورڅخه نه کوو د بېلګې په توګه هغه سزاګانې چې الله تعالی وضع کړي دي، بلکې باید د الله په قانون راضي شو، ځکه چې الله په هغه څه پوهیږي چې مخلوق اصلاح کوي، او پدې پوهیږي چې په دې سزاګانو کې د ټولنې پاکوالی دی. "[سورة الملك]

.ایا هغه ذات به نه پوهیږي چې یې (هر څه) پیدا کړي دي (ولې نه!) او هم دی ډېر باریك بین، ښه خبردار دی

او الله پاک فرمایلي:

﴿أَفَحُكۡمَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ يَبۡغُونَۚ وَمَنۡ أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكۡمٗا لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ۝٥٠﴾ [المائدة: 50]

{ له الله نه (بل) څوك ډېر ښه دی، د هغه قوم لپاره چې یقین کوي [سورة المائدة.].

الله هغه ذات دی چې پوهیږي کوم کار د خلکو لپاره په دنیا او آخرت کې ښه دی.

د الله د قانون پلي کول خلک پاکوي او په خوندیتوب کې ژوند کول ور په برخه کوي.

یو سړی چې ادعا یې کوله پر الله او پر هغه څه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نازل شوي دي ایمان لري، د رسول الله صلی الله علیه وسلم

پر ځای کعب بن اشرف نومې یهودي ته ورغی تر څو په یوه قضیه کې ورته فیصله وکړي، لدې ویرې چې هسې نه رسول الله صلی الله علیه وسلم په داسې یوه څه سره پریکړه

وکړي چې د ده به خوښه نه وي، هغه يهودي ته په دې هيله ولاړ چې د ده د خوښې پريکړه وکړي، نو د الله جل جلاله دا قول نازل شو:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا۟ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا۟ أَن يَكْفُرُوا۟ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿٦٠﴾﴾ [النساء: 60]

{آيا تا هغه کسان نه دي کتلي چې دا دعوا کوي چې دوی پر هغه څه ايمان راوړی دی چې تا ته نازل کړی شوي دي او پر هغه څه چې له تا نه مخکې نازل کړی شوي دي، دوی غواړي چې خپلمنځي فيصلې طاغوت ته يوسي، حال دا چې دوی ته له هغه نه د انکار کولو حکم شوی دی او شيطان غواړي چې دوی بې لارې کړي، په ډېرې لرې ګمراهۍ سره .[سورة النساء].

نو که ته الله ته غاړه ايښودونکی مسلمان يې، بايد د الله په دين پابند پاتې شې، او د الله پرېکړې ته تسليم شې اګر که د الله پريکړه ستا د خوښې خلاف وي، داسې نه چې د الله قانون پرېږدې او يو يهودي ته لاړ شې تر څو درته په يوه قضيه کې ستا د خوښې پريکړه وکړي.

الله تعالی په لاندې آيتونو کې فرمايلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ إِذ ظَّلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ جَآءُوكَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ٦٤﴾ [النساء: 64]

{وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللَّهِ} ﴿٦٤﴾ ,[سورة النساء]

او نه دی لیږلی مونږ هیڅ رسول مګر د دې لپاره چې د الله په حکم سره د هغه اطاعت وکړی شي.

الله رسولان د دې لپاره نه دي رالیږلي چې مونږ یې پریږدو او فیصله د نورو قانون ته یوسو.

بیا الله تعالی د دې او دې ته ورته نورو پیښو څخه پند اخیستل په یو مهم آیت سره چې د الله له قانون څخه د پیروی کولو اړتیا په ګوته کوي پای ته رسوي، زمونږ رب العالمین وفرمایل:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ٦٥﴾ [النساء: 65]

{ پس داسې نده، ستا پر رب مې دې قسم وي! دوی مومنان کېدی نشي تر هغه پورې چې دوی په خپل منځ کې په پېښو جګړو کې تا فیصله کوونکی ومني، بیا په خپلو نفسونو کې ستا د کړې فیصلې په باره کې هېڅ تنګي ونه مومي او په ښو منلو سره يې ومني {65}.[د النساء سورت,]

:د الله قانون ته په بشپړ ډول تسلیمیدل اړین دي، ځکه چې د الله قانون ته تسلمېدل، اسلام ته د غاړې اېښودلو یوه نښه ده!

الله تعالی ته د تسلیمېدو څلورمه نخښه: د الله تقدیر ته تسلیمېدل دي، ځکه چې هر څه الله تعالی په خپل حکمت سره اندازه کړي دي، لدې امله مسلمان د الله په ټولو تقديرونو کې ... په ښه او بد کې الله ته تسلیمیږي.

که مسلمان ته خوشحالي ورسیږي نو شکر کوي او که کوم مصیبت ورته ورسیږي صبر کوي.

که الله درته خواړه، ښه رزق، ښکلی کور، په زده کړه کې بریالیتوب، روغه ستړه او یا د کورنۍ ښه او پاک غړي درکړل، نو د الله شکر ادا کړه.

او که په یو مسلمان باندې کوم تکلیف لکه ناروغي، فقر، وېره، آفت او اضطراب راشي او پدې مصیبت صبر وکړي او له الله تعالی څخه مرسته وغواړي، دا د تسلیم شوی مسلمان حالت دی چې خپل پاک رب ته تسلیم دی.

هر څه د الله پاک لخوا ټاکل شوي دي:

روغتیا، ناروغي، شتمني، بې وزلي ... هر څه د هغه د تقدیر او حکمت سره سم دي، او مسلمان باید په تقدیرونو راضي وي څکه چې الله  د هغې اندازه کوونکی دی.

زمونږ پاک رب فرمايی:

﴿إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٖ ٤٩﴾ [القمر: 49]

{ بې‌شکه مونږ هر شي لره، مونږ هغه په (ازلي) اندازې سره پيدا کړی دی [سورة القمر.].

او الله تعالى فرمايي:

﴿قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٥١﴾ [التوبة: 51]

{ ته ( دوی ته) ووايه: مونږ ته به له سره مصيبت راونه رسېږي مګر هغه چې الله زمونږ لپاره ليکلی دی .[سورة التوبة.].

مونږ ته به هيڅ نه رارسيږي مګر هغه څه چې الله زمونږ لپاره ټاکلي وي

او الله تعالى فرمايي:

﴿وَمَا كَانَ لِنَفۡسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِ كِتَٰبٗا مُّؤَجَّلٗاۗ وَمَن يُرِدۡ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا وَمَن يُرِدۡ ثَوَابَ ٱلۡأٓخِرَةِ نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَاۚ وَسَنَجۡزِي ٱلشَّٰكِرِينَ ١٤٥﴾ [آل عمران: 145]

{ او هیڅ یو نفس لره دا اختیار نشته چې (پخپله) مړ شي مګر د الله په ارادې سره [سورة آل عمران اجلونه الله ټاکلي دي.هر څه چې په کایناتو کې پېښیږي، او هره ذره چې په نړۍ کې خوځښت کوي او هره پیښه چې پیښیږي د الله په علم او د هغه په اراده، حکمت او قدرت سره پېښیږي.زمونږ پاک رب فرمايي:

﴿ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ فِى ٱلْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَىْءٍ فَقَدَّرَهُۥ تَقْدِيرًا ۝٢﴾ [الفرقان: 2]

{ او هر شی يې پیدا کړی دی، نو هغه يې په اندازه کړی دی، اندازه کولو سره [سورة الفرقان.].

هغه پاک ذات دی چې هر څه يې پيدا کړي

او هر څه يې اندازه کړي دي او هغه څه چې وغواړي هغه کيږي او څه چې ونه غواړي هغه نه کيږي.

زه د يو مسلمان په حيث مسووليت لرم تر څو د الله تعالى ټولو پريکړو ته غاړه کيږدم.

او پدې توګه انسان د الله په نزد مسلمان ګرځي.

اسلام د ټولو انسانانو لپاره د الله دين دی، الله تعالى فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ وَمَا ٱخۡتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۗ وَمَن يَكۡفُرۡ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ١٩﴾ [آل عمران: 19]

{بې‌شکه (معتبر) دين د الله په نيز اسلام دی [سورة آل عمران]

اسلام هغه دين دی چې الله تعالى پرته له هغه بل دين نه مني:.

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٨٥﴾ [آل عمران: 85]

{واو څوک چې له اسلام نه غېر (بل) دين غواړي، نو هېڅکله به هم لده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په آخرت کې له تاوانيانو څخه دی [سورة آل عمران]

نو ځکه هر انسان

بايد اسلام قبول کړي.

په اسلام کې له اور څخه خلاصون او د الله د رضايت او جنت لاس ته راوړل دي.

په اسلام کې داخلېدل يو له سترو نعمتونو څخه دی، بلکې دا ستاسو په وجود کې تر ټولو لوی او مهم شی دی.

اسلام په حقيقت کې فطرت او عقل ته ورګرځيدل دي.

اسلام ته داخلېدل اسانه او رسمي مراسم او چارو ته اړتيا نه لري، يوازې انسان بايد دوه د شهادت (ګواهۍ) کلمې ووايي، هغه دا چې: أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدًا رسول الله

. زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته او زه شاهدي ورکوم چې محمد د الله رسول دی.

په دې توګه هغه مسلمان شو.

بيا د اسلام په عملي کولو پيل کوي زه سپارښتنه کوم چې د اسلام هاوس ويب پاڼه تعقيب کړئ، هر يو د خپلې ژبې مطابق، ترڅو نوی مسلمان زده کړي چې څنګه بايد اسلام تطبيق کړي.

د ويب پاڼې لينک https://islamhouse.com/ar/ :

# منځپانګې


سوال او ځواب........................................................................................................... 3
او په پای کې ؛ زه څنګه په اسلام کې داخل شم؟.................................................... 119
منځپانګې.................................................................................................................. 121